

# پښتو کیسې

Ketabton.com

راټولونکي: عادل منصور

کال : ۱۴۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځانګړني

---

دکتاب نوم: پښتوکیسی

راټولوونکې: عادل منصور

بریښنالیک: adilmansoor371@gmail.com

اړیکه : ۷۸۰۲۰۹۱۶۴ (۹۳+)

ډیزاین چارې: راټولوونکې

خپرندوی: www.ketabton.com

کال: ۱۴۰۴ هـ . ش

---

دچاپ حقوق خوندې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

- خپل قدرمن پلار ته چې د ژوند په هره برخه کې يې زما پالنه کړې او زه يې تعليم کولو ته هڅولی يم او زما ملاتړ يې کړی دی.
- خپلې قدرمنو مېندو ته چې دعاګانو يې همېشه زما ژوند تاند ساتلی. او د ژوند په هره برخه کې يې کاميابي را په برخه کړې ده.
- خپلو هغو قدرمنو استادانو ته چې زما معنوي پالنه يې کړې. او زه يې ددې جوګه کړی يم چې نن ورځ د خپل ځان او ولس لپاره د خدمت مصدر وګرځم.
- خپلو زړه ته رانږدې ټولګيوالو او خوږوملګرو ته چې هر وخت يې په خپلو نېکو مشورو سره سمې لارې ته تشويق کړی يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

- ❖ دېبو کور
- ❖ بابا
- ❖ تاویز
- ❖ ښایست
- ❖ د نیکه بابا بنگله
- ❖ نرسه
- ❖ ځواک
- ❖ دژبې خرپ
- ❖ یواځې شیبې
- ❖ نیمگړې کیسه
- ❖ پلار،موراو لور
- ❖ دشیشې گیلاس
- ❖ سنیما
- ❖ پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

# دپښتو د پرمختګ پر لور

په نړۍ کې ډیرې داسې ژبې شتون لـري چې ورځ تربلې یې وېونکی کمیږي، د مرګ پر پوله ولاړې دي او ډیرې ژبې لا پخوا مړې شوې دي ددې ژبو له ډلې څخه یوه ژبه پښتو ده چې تـر مرګه نه ده رسېیدلې خو په (نری رنځ) اخته شوی ده . خدای مکړه که درملنه یې ونه شی نو له مړینې سـره به مخامخ شی .

نو راځی چی خپله مورنۍ ژبه( پښتو) له (نری رنځ )څخه وساتو!

عادل منصور



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دببو کور

هلته به هر وخت یو شور وو، داسی شور لکه چې د واده په کور کې وي. د ماشومانو چغي، د ښځو خنداګاني ، د سړو خبری... بس د ببو کور یو جنت وو. د کلی په مینځ کې د ویالی په غاړه دا کور په څو جریبه مزکه کې جوړشوی وو. د یو سردالان کې به خلکو خبری بل سرته نه اوریدی.
د ببو هر یو ځوی چې واده کوو نو هغه له به یي یوه کوټه او یو دالان جوړ یدو .
د شپږو زامنو او څلورو لوڼو نه علاوه په کور کې څو تنه سپین ږیری او یو څو سپین سری هم اوسیدی چې د ببو د خپلوانو نه وو. ماشومان نه وو خبر چې دوی د ببو سره څه خپلوی لرله خو د هغوی کیسو به ورله خوند ورکاوو. د کور په انګڼ کې د توت او د انارو ونې وی. د لوی دیوال سره د انګورو تاکونه وو چې د اوړی په غرمو کې به ورلاندی ماشومانو لوبې کولې. او د مشرانو نه په پټه د انګورو تروی پاڼي او یا خام انګور به یي خوړل. کله کله به یو سپین ږیري سړي هم هلته کټ واچوو او د څپر تر سوری لاندی به یي خوب کوو.
د ببو د کور دروازه نه وه. بس یو لوی در او د هغی مخی ته وړوکی خام ډیوال وو چې ښځی به د هغی شاته ودریدی او کله به یي د هګیوال او کله دبنجاری نه شیان پلورل. د اوړی د غرمی به چې په پټو کې لو کیدو او د کور ټول غړی به هم هلته وو پدی کور کې به یو څو شیبو لپاره خاموشي شوه. یوه زړه انا به په دالان کې ناسته وه او ځان ته به یي ببوزی وهلو. پدی محال به دومره چپتیا وه چې د مچانو بنګا به هم نه اوریدل کیده. بیا به یو مچ را والوتلو او بنګ به یي وکړ.
د مازدیګر په تناره کې به د چم ګاونډ ښځو خپلی ډوډی پخولی. شپی د ډیوې او د هری کین په رڼا کی به ښځو څرخی ګرځولی ، ټپی به یي ویلی . ماشومانو به پټ پټونی کولې او سړي چې به د حجری نه دې کور ته راتلل نو په لاسونو کې به یي بلې شونټې نیولي وې. د ببو په کور کې کله کله جنګ هم وشو یو ماشوم به بل د لاسه شی وتښتوو، منډی تړړی شور ماشور به جوړ شو.
ځوانی مرګ، بې حیا، سوډر او دغسی نورالفاظ به ماشومانو زده کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library
میندو به یو بل ته پیغورونه او سپکی وویلی ، خو لږ وروسته به بیا ټول ارام او خپل کارونه به یې کول. د ببو په کور کې ددنیا هر څه وو. هغه دنیا چې ډیره وړه او حاجتونه یې ډیر محدود وو. ستنه، تار، قیچې (بیتی) د ګنډلو ماشین، د شیشې ګیلاسونه، چینې لوښي، د میسو پتنوس او دا هغه شیان وو چې د کلی د هر کور پر هری غنم ښادۍ کې به خلکو د ببو نه په پور وړل.
بیا یوه ورځ د ببو مشر زوی خلیل دوبۍ ته د تللو فیصله وکړه .دی په ښار کې د یو مستری سره د موټرو د پرزو جوړولو او د ویلډنګ کار زده کړی وو. په دوبۍ کې د داسی کسب ګرو ضرورت وو .خلیل خوشاله وو خو ببو وارخطا وه. هغه په خپل ټول ژوند کې ښار ته یو څو واری تللی وه.
دا هم نه وه خبره چې نړۍ څومره لویه ده، پکی څومره خلک وسیږی. په کومه ورځ چې خلیل روانیدو ببو په کور کې لوی خیرات کړی وو. ډیر خلک راټول وو. دببو امړیندو اخوا د یخوا منډی وهلی او په میلمنو ګرځیدی، خو ببو په یو کټ ناسته وه. د کلی ښځی به راغلی او یو څو شیبی به دی سره کیناستی. چا به ورله مبارکی ورکړه، چا تسلی او چا به ورسره وژړل خو ببو غلې ناسته وه ، هیڅ خبري یي نه کولی. د خیرات ډوډۍ وخوړل شوه او د ببو په کورکې یوه شیبه خاموشي شوه. د خلیل بکس په یوه ټانګه کې کیښودل شو، هغه د خپلی غاړی نه د ګلونو څو امیلونه لری کړل چې خویندو ورته راوړی وو. بیا د وروستی ځل لپاره د ببو سره جوخت کیناستو. هغې ته یي تسلی ورکړه چې شپږ میاشتی وروسته به په چوټۍ راځي خو ببو هم هماغسی غلې ناسته وه. د کور سپین ږیری راټول شول ، یوی ښځی د خلیل په سر قران ونیولو. ده د وروستی ځل لپاره د مور پښی ښکل کړی. ببو ورته په سر لاس کیښود یو څه دعایي وکړه خو دومره په ټیټ غږ چې هیچا نه اوریده. خلیل د وروڼو او د ماشومانو په بدرګه له کوره ووتلو.
یو چا ډک جام اوبه ورپسی وروشیندلی . ټولی ښځی د ببو کټ خوا او شا ته کیناستي، څوک په زمکه او څوک په نورو کټونو خو ببوویل. بیا نوری ښځی خپلو کورونو ته ولاړی او د کور ښځو لوښی لرګي راټول کړل، نه ژړل نه یي څه د ببو ګیرچاپیره د ژوند کاروبار بیا پیل شو خو هغه همدغسي په کټ ناسته وه

(c) ketabton.com: The Digital Library
. یو چا ورته وویل "ببو د مازیگر مونځ بـه درنـه قضا شي" خـو ببـو بیـا هـم را پـا نسیده، د خلیل ښځی ورته پام شو .خواښي تـه ورنـږدی شـوه او دی ولیـدل چـې د هغی په بانړو یوه اوښکه لکه د ملغلری پرته وه.
سترګی یي دروازی ته نیولی وي امږور یې لاس ونیولو او ورته یي وویل "ببو راپاسه" خو ببو لکه چې یوې بلې دنیا کې وی، له سترګو یي دوه اوښکی راتویې شـوي او پـه یوې سلګۍ یي وویل "د ببو کور وران شو."

## بابا

زه د ګنډلومشین ته ناسته یم. د لور کمیس مې ایلـه د مشـین ترغـاښ لانـدې ایښـی دی، چې د نګارې غږ اورم. زه یوه شیبه غوږ نیسمه، نګاره په قهـر شـوه. اوس یـې غږ نور هم لوړشو. زه پوهیږم چې نورګنډل نه شم کولی. بابا لکه چې بیـا نـن کـوم شی خوړلی دی، زما دا اندازه ځکه سمه ده، چـې لـه تـیرې میاشـتې راهیسـې کلـه د نګارې او بابا نانډرۍ پیل شي، نو زه هـم پـه کـې د روغـې جـوړې لپـاره ورغوښـتل کیږم .
نور کله د نګارې په کور کې ډېـره خـاموشي وي. یـوازې د بابـا غـږ اوریـدل کیـږي. نګاره او د هغې بچیان په ټیټ غږ خبرې کوي، خو کله چې بابا له بازاره څه خـوړلي وي، بیا نو د هغه غږ څوك نه اوري، یوازې نګاره لګیا وي. هغه زمـا د مامـا لـورده، کونډه ده، د دریو اولادونو سره د مور او پلار کره اوسیږي. زموږ او د مامـا کورونـه دیزوال په دیوال دي. یوه وړه کړکۍ د دواړو کورونـو تـرمنځ لکـه د میږي لار ده، چې ښځې او ماشومان ترېنه اخوا دېخوا دانګي .
ماما ته موږ ټول بابا وایو او بابا د معدې تکلیف لري. ډاکټرانو ورته ویـلي دي چـې نرم خواړه به خوري. زیات غوړ، مرچ مساله او د بـازاري خـواړه وربانـدې بنـد دي. نګاره د بابا یواځینۍ لورده او په یوې بهرنـۍ اداره کـې کـار کـوي. بابـا د سرکـاري نـوکرۍ نـه ګوښـه شـوی دی، اوس د اویـاوو کـالو دی، د معـدې لـه تکلیـف پرتـه نورصحت یې ډېر ښه دی. خو نګاره تل د پلار په اړه خواشینې وي. بابا څـو وارې د معدې د پرهردلاسه په روغتون کې داخل شوې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کله یې د معدې تیزابیت دومره ډېر شي چې د درد له لاسه بې شیمې وي. نګارا ورته د چرګ ساده ښوروا پخوي. له ښاره ورته رنګارنګ بسکیټ راوړي، الوګان ورته اېشوي، میده کوي او بیا لکه د ماشوم بابا ته په خپلو لاسونو ډوډۍ ورکوي. مامي پخپله د لاسونو او پښو د درد له لاسه په کور کې ډېر څه نه شوی کولی .

بابا د چکر په پلمه له کوره وځي، کله له شاکرحلوای نه حلوه پوري اخلي. هملته د دکان ډډې ته جوړ دکانچې کښیني او خوري یې، کله د عبدالکریم له هټۍ یوه لویه رکابۍ د لوبیا اخلي. ښه د لیمو اوبه، سره مرچ او مالګه وربانډې واچوي او خوري یې. جانباز نانوای هره جمعه کله پخوي، په دې ورځ بابا ځان پټ له کوره باسي او لږ تر لږه د لسو روپو کله ارو مرو خوري، چې ښه غوړ او مرچ مسالې هم په کې وي .

د نګارې درې واړه ماشومان د بابا څارنه کوي، خو بابا له ډېر چلونه ورځي. هغه دی د نګارې غږ راپورته شو. ما ته اوازونه کوي:

..."یا درخانۍ!... ته راشه!"

زه ګنډل پرېږدمه او ورځمه، چې روغه وکړمه، له کړکۍ دانګمه، له غولي برنډې او له برنډې کوټې ته ورځمه... بابا یوې خوا ته پرقالین ناست دی، سر یې ځوړند دی او مخ یې مسکین ښکاري. د نګارې واړه د برنډې له کړکۍ دننه کوټې ته پټ- پټ ګوري. ما مې پر کټ ناسته ده او په زوره زوره ځان ته ببوزي وهي، سره له دې چې پکه ورته لګیدلې ده. نګارې لوپټه غورځولې ،متې یې رانغښتې دي او په ټوله کوټه کې ناکراره یوې او بلې خوا ته ګرځي. زه خبره یمه چې نګاره په داسې وخت کې سخت په قهر وي. زه ورځمه له بابا سره کښینم او ترې پوښتمه:

"بابا! بیا دې څه خوړلي دي؟."

بابا سر راپورته کوي او زما خبره لا نه وي پوره، چې وایي :

"هېڅ... والله که هیڅ مې خوړلي وي ."...

بیا غږ ټیټ کړي او دویمه جمله د شونډو په منځ کې وایي :

"ناحقه راباندې په قهر ده."

(c) ketabton.com: The Digital Library
بیا ورو غونډې د سترګو په کونج کې نګارې ته ګوري. نګاره لکه د ژمي راناوبړې او په لوړ غږ وايي :
"اوس د ډوډۍ وخت دی، بابا ته وايه چې ولې ډوډۍ نه خوري." زه بابا ته ګورمه. دی وايي :
"تا د معدې تکليف نه دی تير کړی... ډوډۍ مې زړه ته نه کيږي."
نګاره بیا راتاوه شي: "ښه... يو ساعت وړاندې د جمشيدي پکوړو ګاډی ته څوك ولاړ و." بابا ژر ناره کړه: "زه خو هسې هلته ولاړ وم. يو پخوانی ملګری مې وليدو، دهغه حال مې پوښتلو."
نګاره ځان پر يوه کرسۍ راغورځوي او وايي: "زه د شاخوبانې ترور پوښتنې ته ورغلې وم، له هغه ځايه ژر راوتلمه، چې د ډوډۍ ناوخته نه شي. ما په خپلو ګناه ګارو سترګو وليدل چې بابا د پکوړو له ګاډی سره جوخت ولاړ و.
بابا سر نور هم ټيټ کړ. دومره چې زما وربانديې زړه وسو. د هغه په دفاع کې مې وويل :
"د ګاډی سره ودريدل خو دا مانا نه ورکوي، چې بابا به ارو مرو پکوړې هم اخيستي او خوړلي وي.
بابا چې خپل د مدافع وکيل وليد، نو يو څه زړور شو، سر يې راپورته کړ او وايي :
"دغه خبره خو زه هم ورته کوم، چې زه مازې هلته د خپل ملګري حال پوښتلو ته ولاړ وم ." نګاره يو څه ارامه کيږي. وايي: "ښه، که پکوړې هلته نه دي خوړل شوي، خو کور ته راوړل
شوي دي ."
بیا په چيغه خپلې وړې لور ته غږ کوي:
"نورينې! دلته راشه... بابا نن څو پکوړې درکړې وې؟."
د درې کلنې نورينې په غټو غټو سترګو کې هم ويره ده او هم پريشاني. دا پوهيږي چې د راز په ويلو او نه ويلو دواړو کې تاوان دی. په منډه راځي او زما په غيږ کې ځان پټوي. بيا وايي :
"بابا دوه پکولي لاته لاکلي وې."

(c) ketabton.com: The Digital Library
د نورينې خوب د يوه ډيپلومات خوب و. دا له موره وېرېدله، په داسې وخت کې د بابا دفاع ورته عبث کار ښکارېده. هغې داسې فکر کاوه، چې پکوړې بد شی دی، د بابا لپاره؛ خو دا يې نه ويل چې دې له پکوړو سره څه وکړل؟.
نګارې توره وبرېښوله او ويې ويل :
"بابا دوه پکوړې چې نورينې ته ورکولې، نو څه شرط يې ورباندې ايښی و؟."
دا پوښتنه هغې له خپلو دوو زامنو وکړه چې له کړکۍ يې پټ - پټ راکتل. هغوی تر نورينې زيات ډيپلوماتان وو. ژر يې له هاغه ځايه پښې سپکې کړې .
د نګارې شاهدان لاړل، نو هغه يو څه سترې معلومېده. بابا هم حوصله مونډلې ده. فکر کوي چې جنګ پای ته رسيدلی دی. اوس هڅه کوي چې له کوټې ورو غونډې ووځي. په دې کې نابره وړه نورينه زما له غیږې ناره کوي :
"بابا لاته ويلي وو، چې ادې ته مه وايه، بيا ما پکولي وخوللي."
"هۍ هۍ!  لعنت دې وي د ماشوم په عقل". دا خبره ما له ځانه سره وکړه. نګارې لږه دمه کړې وه، له تازه دم ځواب سره بيرته رابېره شوه :
"دا يې لا بله بده... هم له مرچو ډکې پکوړې خوري، هم زما لور ته رشوت ورکوي او هم بيا په دروغو يې هم اموخته کوي."
او له دې خبرې سره د هغې سترګې له اوښکو ډکې شوې .
ما مې په دې وخت کې بهر برنډې ته وتلې وه، د لور له غبره پوهیږې چې دا زهيره ده. بيا رادننه کيږي، ببوزی يې په لاس کې دی او پرمخ يې داسې علامه ده چې بابا هم پر دې ببوزی ووهي.
خو يو څه د هغه د سپينې ږيرې، يو څه زما د موجوديت او يو څه د پخوانۍ مينې له کبله مجبوره کيږي، لاس نيسي، کښيني او راته وايي :
"د دې سړي همدغه حال دی. نه په خپلې ګټې دی او نه تاوان، خيټه يې په لاس کې نيولې وي.
اوس لږه شيبه وروسته به يې د درد له لاسه ټول کور په سر اخيستی وي. همدغه نګاره بيا ورته دارو درمل کوي. پرون يې هم په بازار کې سموسې خوړلې وې، کرۍ شپه يې په ويښه تيره کړه."

(c) ketabton.com: The Digital Library
نګارې تر اوسه ډېرې په حوصلې جنګ کاوه او میدان یې ګټلی و. خو د مور په خبرو یې لکه چې زړه راډك شو. وایي :

"ما ته د سړي د مرګ نه وروسته درې اولادونه نه دي پاتې، زه د څلورو ماشومانو مور یم او دا یو په کې تر ټولو زیات رنځ راکوي ."

اشاره یې بابا ته وه. زما مخامخ پر غالۍ کښیناسته او وایي :

"هره ورځ همدغه حال دی، کله د جمعه ګل د دکان نه کباب وخوري، کله یې اېشېدلې وړې خوړلې وي، هاغه بله ورځ یې چولې (نخود) خوړلې وې .

بابا ته ګورمه، اوس یې بیا سر ټیټ نیولی دی. د خجالت او جرم له احساسه په ډك غږ وایي : "تاسو به باور نه کوئ... زما غوندې د زړو خلکو حافظه ډېره کمزورې شي... ما نه خو هېر وو چې ډاکټر راته ویلې دي...: بس کله چې وږی شم، هر شي ته مې زړه کیږي. نن د پکوړو د ګاډۍ له خوا نه تیرېدم، یو لږ مې واخیستې، چې په کور کې به یې ماشومانو ته ورکړم. یو دوه دانې مې دې وړو ته ورکړې، ما ایله څکه کړې ده. ډېر مې نه دي خوړلي، خوله مې پیکه وه... زیات مرچ او مسالې پکې نه وې." د بابا دا اعتراف د نګارې دوو زامنو هم لکه چې اورېدلی و، ګورمه چې له نیمې وازې کړکۍ نه یې سرونه رابښکاره شول، اوس ټول نګارې ته ګوري. هغه له خپله ځایه راپاڅیږي او اعلان کوي :

"اوس که په دې کور کې هرڅوك ناروغیږي او که مري... زه یې ډاکټر ته نه شمه بیولای. څوك دې په جمشیدي پکوړو والا پسې ورشي، چې امبولانس راولي. زه له ژونده بیزاره یم. شپږ ورځې په دفتر کې کار کوم، په اوومه ورځ مې زړه غواړي چې ارام وکړمه. خو هره جمعه همدغسې په ناندریو کې تیریږي."

نګارې دا ټولې خبرې په تللو کې وکړې... نورینې زما غبږه پرېښوده او اوس په خپلې مور پسې منډې وهي .

بابا هم دلته پر غالۍ وغزیږي ،مامې ورته ببوزی وهي. زه خبره نه یم چې که د بابا په خېټه کېدرد وشو، نو نګاره به ورته له خپلې کوټې رامنډې کړي. د درملو غم به یې کوي. زه په دې هم خبره یم چې سبا ته بابا د جمعه ګل د دکان کباب خوري، یا به له شاکر حلوایي نه متهایي، یا لوبیا... بابا نه منع کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاویز

هاشم د ښاري سروېس نه په بېره ښکته شواو غوښتل يې چې دسړک پورې غاړې ته ولاړشي خو نابېره... شاته نه چا ورباندې غږ وکړو"وا خانه... تاتـه وايـم... ودرېږه... دابټوه دې واخله." هاشم هيڅ نه اورېدل، پـه ده تـادي وه خـو بـل کـس وربانـدې چيغې کړې..."استاده پټاکې دانه دې هيره کړې ده" هاشم شاته وکتل... يو بـل تـن ناره کړه.... ودرېږه.... بکسه درنه پاتې ده.

هاشم ددې خبرې په اورېدو د تخر پـه جيـب لاس ووهلـو او بيا يـې روان بـس تـه وکتل يو سړی د بس دکړکۍ نه نيم بهر راځوړند و،نـورو سـورليو ډرايـور تـه چيغـې وهلې چې ايسار شه... که نه دا ښاري بسونه خو دباد په اس سپاره منډې وهي،لـه کړکۍ نيم بهر راوتلي کس په يو لاس کـې د هاشـم وړه بټـوه نيـولې وه،او چـې دی ورنږدې شو هغه په زوره زوره لګيا و"پـه بـس کـې ويـده وې نـو اوس خـو راويښ شه... داځلې درسره بخت ياري وکړه زما ورته پام شو که نه دا ښار د غلـو ډک دی."

هاشم دسړي دلاس نه خپله بټوه واخيسته اولايې دتشکر او مننـې جملـه پـه خولـه کې وه چې بس ګړندی شو او د نـورو خـبرو پـر ځـای سـړي تـه لاس وخوځـوو. ده بټوې ته کتل . په دې مياشت کې دا دويم ځل و چې دهاشم نه بټـوه پـاتې کيـده او نورو خلکو ورپسې رازغلولې وه. دی دسړک نه پورې غـاړې دخپـل دفـتر دلـويې ودانۍ په لورې روان شواوچرت يې وهو چې ده خو دخپـل ځـان نـه زيـات دبټـوې ساتنه کوله اوس ورباندې څه چل شوی و؟ داسې نه وه چې په دې بټـوه کـې ډېـر مال و،او يا دا چې بټوه قيمتي وه. هاشم په يوه دفتر کې منشي۔ و او دا بټـوه يـې ديو ګاډې والا نه په لسو روپو اخيستې وه.

دمياشتې په سر کې به يې دتنخوا ټولې پيسې دخپلې مور په لاس کېښـودې او هـره ورځ په يې له هغې د لارې کرايه اخيسـتله،دبټوی پـه يـو جيـب کـې بـه يـې مـاتې پيسې وې،په بل کې شناختي کارډ دريم چې زنځير يـې لاره پـه کـې دلسولسـو دوه نوټونه و،او دا يې د ډېر بد وخت لپاره په کې ساتل.

د هغه وخت لپاره چې ده يې انديښنه لرله، ناوخته له دفتره راوتل،پـه خوشـې لاره کې بې سورلۍ پاتې کيدل او ناڅاپه ناروغي.

(c) ketabton.com: The Digital Library
دزنځیر دجیب دلاندې یو بل پټ جیب دی چې په لومړي نظر هیڅا ته نه ښکاري،او هم په دې جیب کې د هاشم لپاره تر ټولو ارزښتناکه شی بند و،دا دکاغذ یوه وړه ټوټه ده چې وربان‌دې څو جملې لیکلې دي دا کاغذ هغه ته ورېمې ورکړی و.
هاشم په مهاجرت کې دښوونځي سبق پوره کړی و،او اوس بیرته چې خپل کلي ته راستون شو، نو دکونډې مور په وینا په ښار کې یې ځان له نوکري پیدا کړه، دکلي ځینې خلک بیلا بیلو ملکونو ته مهاجر شوي و. دهاشم دوړوکي کور ترڅنګ داحسان کاکا پخواني کورته هم دده دوه زامن بیرته راغلي و. نور لاتراوسه په نوروهیوادونو کې وو، په دې کلي کې ډېره موده وروسته د واده نغاره غږېدله، او د هاشم مور هم دنورومیلمنو په څیر داحسان کاکا د کشرځوی واده ته ولاړه. هلته یې دومره پیغلې جینکۍ ولیدې چې د هاشم د واده د ارمان یې بیا په زړه کې جوش ووهلو.
خوپه دې ورځو کې دهاشم په دفتر کې یوه نوې جینۍ دکار لپاره راغلې وه،هسې خو هلته ډېرو ښځو کار کاوو،خو دا جینۍ ښایسته وه نوم یې بل څه وخو هاشم به ورته ورېمه ویل،ځکه د هغې په مېز به هره ورځ د تازه ګلاب یا نور خوشبویي لرونکې ګلونه ایښي وو،داسې بریښېده چې په کور کې یې ډېر بوټي وو،په دفتر کې نور سړي هم دورېمې نه تاوېدل راتاوېدل خو دهاشم په زړه کې دهغې لپاره زوروره مینه پیداشوه. دومره زوروره چې یوه ورځ مور ورته دواده خبره وکړه نو ده ورته وویل"زه لاواده نه غواړم" بیا نو هره شپه دهاشم دمور پوښتنې ډېرېدې.
په سر کې به یې ورته نصیحتونه کول چې وخت بیرته نه راګرځي، دی اوس دپنځویشتو کالو و،دده همځولي ټول درې اوڅلور اولادونه لري. بیا به یې نصیحت په پوښتنو بدل شو"څوک دې خوښه ده. ولې یې رانه پټوې؟ که غواړې د جینۍ کور ته به ورشو". څو اوونۍ تیرې شوې نو مور وربان‌دې جذباتي فشار راوړ، هاشم به کورته راغی نو مور به یې په کټ پرته وه،څه خاصه ناروغي به یې نه وه،بس کله د پښو د درد او کله دلاسونودخوږېدو فریاد به یې کوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library
هاشم به هره ورځ په خپلې بټوې کې يوځلې لاس وهلو،هغه وړوکی کاغذ به يې ترېنه راويستلو په دې ليکلې جملې به يې ولوستې موسکی به شو،بيا به يې لکه ديو تاويز دبټوې په پټه خانه کې کېښودو،او په چرتونو به شو چې مور ته څه ووايي.

دهاشم په دفتر کې به دډوډۍ نه وروسته ځينو کارکونکو لمونځونه کول،ځينو به چې له کلي راتلل په ښار کې دضروري کارونو يا سودا لپاره منډه کړه،هاشم به هم کله-کله بازار ته ورچکر شو. په بازار کې به يې رنګارنګ شيان ليدل اوپه تصور کې به يې ورمې ته اخيستل.

تر اوسه ده دورمې سره ډېرې کمې خبرې کړې وې،هغې به دنشرياتو په برخه کې کار کاو. هاشم دا هم نه غوښتل چې ددفتر نور خلک دې دده په احساساتو خبر شي. هغې دورمې بدنامي هم نه غوښتله، خو يوه ورځ ورته خداى موقعه برابره کړه. ددوى همکار زيارت ګل ټولو ته د واده بلنه ورکړې وه. ميلمستيا په يو ريسټورنټ کې وه اودمازديګر دچايو نه وروسته هغه کسان چې په لرو سيمو کې اوسيدل راپاڅيدل. هاشم هم غوښتل چې کلې ته ولاړ شي، په دې ډله کې ورمه هم وه،ددفتر ګاډي دوى ځاى پر ځاى ښکته کول، هاشم د ورمې سره خبرې کولې خو هغه غلې وه.

د ورمې کور په يوه تنګه کوڅه کې وۀ،او ګاډى نور دننه نشو تللى، په دې وخت کې هاشم دګاډي نه ښکته شو او ورمې ته يې وويل"که غواړې زه به درسره ترکوره ولاړشم"اوس کوڅه تياره وه.

ورمې ورته دمننې يو څو جملې وويل اوهاشم ورسره روان شو. د ده زړه دخوشحالۍ نه په ټوپونو و، ډرايور ته يې دانتظار ويلي و، خو دا هيله يې پيدا شوه چې که ورمې راته دکښيناستو يا د چايو ست وکړو نو دى به ارومرو ورکړه ايساربږي. ورمه په لاره کې هم خاموشه وه، يو وړې لرګينې دروازې مخې ته ټغرځوړند و، ورمه هلته ودربده او هاشم ته يې وويل"بس ستاسو ډېره مننه دا زما کور دى" دا يې وويل او دروازه يې ټيله کړه نو هغه خلاصه وه. تر څو چې هاشم ورته خداى په اماني ويل ورمه د ټغر شاته بيا ورکه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library
په تیاره کوڅه کې هاشم ډېر نا هیلی روان و، په زړه کې یې دا ټپه وګرځیده.
ماته دې څه ویل مانه هیر شو ماته هغه خبره بیا وکړه مئینه
دی نه پوهیدو چې ورېمې ته څرنګه دزړه حال ووایي، په بټوه کې ایښی کاغذ هغه ته ډېرې هیلې وربښلې خو مخامخ به ورېمه داسې وه لکه د دفتر نورغړي. په موټر کې هاشم ځان ته تسلي ورکړه چې ورېمه سوچه پښتنه ده، څنګه به یو غیر سړي سره اضافي خبرې کوي. په دې خبره یې زړه خوشحاله شو،په هاغه شپه یې مور ته دزیارت ګل دواده کیسې کولې،مور هم لکه چې بانه غوښتله ورته یې وویل: "ستا دواده وریژي به کله خورو"هاشم ورته وویل: "مورې بس لږانتظار نور وکړه" په بله ورځ هاشم فیصله وکړه چې نور به وخت نه ضایع کویاو ورېمې ته به هم هماغسې لیک وراستوي لکه چې دې وراستولی و،خو بیا یې دا فیصله بدله کړه هسې نه ورېمه پرې غوصه شي،څو ورځې نورې هم دغسې تیرې شوی،هاشم ځان سره کرل ربېل چې څه وکړي دی به هره ورځ دماسپښین دوه بجې ددفتر د فوټو کاپی ماشین کاروو،دلته به یې هاغه پاڼې کاپي کولې چې د دفتر مشر به ورته هره ورځ ورکولې.
همدغسې یوه ورځ هغه دورېمې سره هم د ځینو پاڼو په کاپي کولو کې مرسته کړې وه،او هغه ورځ د هاشم د ژوند مهمه ورځ وۀ، د هاشم په دفتر کې هم اوس کمپیوټر راغلی و،دوی ته ددوو ورځو دتربېي نه وروسته ویل شوي و چې نور کار به په خپله دکمپیوټر په کارولو زده کوي،هر چا به زیار ویستلو چې زر تر زره یې زده کړي،هاشم هم خواري کوله خو کله نا کله به داسې بند شو چې نورو نه به یې مرسته غوښته،خو دوی به هم نه پوهېدل. ها شم به دډوډۍ پر وخت هم په کمپیوټر اخته و،یوه ورځ هم دغسې بوخت و هاغه څه چې ده غوښتل کمپیوټر به ورته د رد ځواب ورکوو،دډېرې خواشینۍ نه ددفتر په دروازه کې ولاړ وچې له چا مرسته وغواړي،همدغه وخت ورېمه له هغه ځایه تېرېده،ده ته رانږدې شوه پوښتنه یې ترې وکړه او بیا ورسره دکمپیوټر لورې ته راغله، څو پوښتنې یې ترې وکړې او په خپله په چوکۍ کښیناسته هر څه یې ورته سم کړل په کاغذ یې ورته نقشه جوړه کړه چې که بیا کمپیوټر کار ونکړو نو دنقشي له مخې دې بټنې ووهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library
وړمه چې له چوکۍ راپاڅېده نو هاشم ته يې وويل"ستا يادېږي چې يوه ورځ فوټوکاپي ماشين کار نه کاو او تا راسره مرسته کړې وه،ما درته دمننې نوټ هم ليکلی و،که بيا دې هم کمپيوټر کې مرسته په کار وي راته ووايه،هاشم په هغه ورځ دومره خوشحاله وچې مورته يې له ښاره ميوه يوړه،او هغې ته يې دوړمې دکور پته ورکړه چې غوښتوته يې ولاړه شي.
مور يې په راتلونکې اونۍ خپله خورزه را وبلله او دواړه دوړمې کورته ولاړې،هاشم دوی کوڅې ته برابره کړه او په خپله دښار يو ملګري کور ته ولاړ،دوی دماسپښين نه وروسته تللي وو،او دوه ساعته چې واوړيدل نوهاشم ورپسې بېرته ولاړو.
کور ته درارسېدو سره سم هاشم دمور مخ ته وکتل،هغه ډېره خوشحاله نه ايسېده دترور لور يې چايو جوړولو ته ولاړه نوترې پوښتنه وکړه"ښنګه موري وړمه دې وليده...کورنۍ يې ښنګه ده؟" مور ورته وويل"بچييه زړه دې صبر کړه. د وړمې مور دا خپل وراره ته په نکاح کړې ده، هلک بهر ملک کې دی کال ته به راشي نو واده به کېږي" هاشم د مور ددې خبرو په اوريدو داسې شولکه چې وينه ترې چا زبېښلې وي.
په بل سحر هاشم دخپلې بټوې دپټ جيب نه هغه کاغذ رااويستلو چې لکه دتاويز يې ساتلی و.
په دې دوړمې دلاس ليک و په کې ليکلي و"نن چې څرنګه دې زما مشکل حل کړو په رښتيا زه دهغې مننه درڅخه نشمه کولې ژوند کيدای شي همداسې وي چې ديو بل په کار شو زه به هم دهغې ورځې په انتظار يم چې ته راباندې غږ وکړې زه به ستا پور وړې يم" هاشم دا کاغذ وشلو او ټوټې يې بهر په کوڅه کې باد کړې، بيا يې د جيب نه هغه کاغذ رااويستلو چې وړمې ورباندې دکمپيوټر دکاروني نقشه جوړه کړې وه،او ډېر په احتياط يې دبټوې په پټ جيب کې کيښودو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښایست

"دا چاى دې سړې شوى!" د خواښې ددې خبرې په اورېدو نازو د خپلو خيالونو له نړۍ را بهره شوه. هغه په کوټه کې تودې بخارۍ سره ناسته وه، بهر سخت باران و، لړه شيبه وړاندې واورې ورېدې او نازو له کړکۍ د واورو په ننداره وه. دهغې له ماشوم والې واورې خوښيدې، ددوى کلى دسوات په دنګو غرونو کې و،او هلته به هر کال ښې واورې ورېدې، د ژمې لومړيو واورو چې

هر څه به سپين کړل نو هغې به په پټه دخپلو همزولو سره د واورو خوړلو تا بيا وکړه. يو چا به د کورنه ګوره راوړه او په واورو کې به يې ګډه کړه. ددې به ښومره خوند و هغې دچايو پياله راواخيسته او يو ګوټ يې ترې وکړ. اوس خواښې يې هم د بخارۍ سره نږدې کيناسته، داوسکو او دبادامو کاسه يې ورته وړاندې کړه، نازو يو بادام راواخيستو اوورته ځيرشوه. هغې ته دخپل کور دبادامو ونه را ياده شوه دشنو بادامو په شکولو ښوواري مورترټلې وه.

دنازو خواښې څو شيبې دې ته وکتل او بيا يې وويل"څه چرت وهې لورې؟" نازو لکه چې له خوبه راويښه شوه "هيڅ هم ترور ...بس هسې" په دې وينا هغې بادام خولې ته کړو، په نکريزو سروګوتو يې د نوو سرو زرو ګوتمۍ پړک ووهلو.

نن ښومه ورځ وه چې دنازو ډولۍ ددې کور ته راوړل شوې وه په کورکې پاتې دلرو ځايونو ميلمانه هم اوس تللې وو،تر اوسه نازو سره به چارچاپيره همدغه ميلمانه ناست و. نن سحر دهغې کشره لور دنازو ايندرور خپل کورته تللې وه او وس دوى داوړه په کور کې يواځې وې. دنازو ميړه انور کار ته تللى و دى په سر کارې روغتون کې ډاکتر و،يوه مياشت به يې د ورځې کار کاو،او يوه مياشت دشپې، نازو له کلي ښار ته راواده شوې وه، او دښار دا کور ورته ډېر تنګ ايسيدو،درې وړې کوټه ګۍ او يو دالان په کې و، غولى يې نه و ،ددالان او دکوټو ترمنځ وړوکې غسل خانه او په يو وړوکې کوټه ګې کې دپخلې ځاى و. دالان ته يو ټغر ځوړند و،ځکه مخامخ ورته اوچت کور جوړ شوى و،او دهغه له کړکيو به خلکو ددوى دالان ليدى شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نازو به د شين اسمان دليدو لپاره له کړکيو کتل دا کړکۍ ډېرې اوچتې جوړې وې اوسرک ترې نه ښکاريدو،دهغې دپلار کور څومره مزکه لرله او په کې څومره ونې وې،دبادامو،مالټو،انارو ونې سهار وختي به په کې څومره مارغان راټول و ناڅاپه نازو خپل ځان په يوبندي خانه کې احساس کړپه دې وخت کې دروازه وټکېده اوڅوميلمانه رادننه شول دا دچم ګاونډ يو څو ښځې وې چې دنازو خواښې سره يې تګ راتګ کاوو،دا څو شېبې دوى سره کېناسته او بيا دچايو ډوډۍ په غم کې شوه،نن هغې په لومړي ځل پخلى کاو نوډېر په شوق لګيا وه،کله چې په دستر خوان دهغې دلاس پاخه شيان يوړل شول نو ټولو يې ډېرصيفت وکړو، نازو دخوشحالۍ احساس وکړو دهغې دښار ښځې خوښې شوې، څومره په ادب يې خبرې کولې، ددې دکالو پټرو ستاينه وشوه، نن هغې ځان هم ښايسته کړى و.

انورچې له کاره راغى نونازو ورته هر څه په پټنوس کې دهغې کوټې ته يوړل،هغې ډوډۍ وخوړه او نازو ترې تاوېده راتاوېده،انور په خاموشۍ خپله ډوډۍ وخوړه نو نازو ترې لوښي اوچت کړل،ددې تلوسه وه چې انور به يې دډوډۍ صفت وکړې يا ددې ښايست به وستايي خو ده هېڅ ونه ويل،دهغې په زړه کې دا خبره غوټه شوه دا څنګه کېداى شي چې دهغې دخواښې يا د نورو ډوډۍ او د نازو په ډوډۍ کې توپير نه و،هغې خو ډېره ښه ترکاري پخوله،ان تر دې چې خواښې هم ورته ويل چې دومره خوندوره ډوډۍ هغه په خپله هم نه شي پخولې.

نازو دښونځي سبق نه و ويلى خو ليک لوست يې زده و، رنګ يې سکڼ و خو دکور په کارونو کې ډيره تکړه وه، انور ورسره ډېرې خبرې نه کولې،له کاره چې به راغلو نو دبخارۍ سره به وغزېدو،ماښام به يې په ټي وي کې هندي فلمونه ليدل،دنازو هم دا فلمونه خوښيدل، په تيره بيا هغه سندرې چې جينۍ او هلک به په کې په ښايسته ځايونو کې ښودل دوى به ديو بل په غاړه کې لاسونه اچول تر يو بل به ځارېدل.

دنازو دا ارمان و چې يو ورځ انور هم دا ښايسته ځاى ته بيولې واى،خو بيا به يې له کړکۍ بهر اسمان ته کتل، سړکال ژمى غزېدلى وبهر ساړه و، ختې وې،دکلي نه يې ورور راغلى و او ورته يې ويلي و چې سختې واورې شوي وې، ټول غرونه سپين و.

(c) ketabton.com: The Digital Library
دنازو په زړه کې وګرځیدل چې دا هم دفلمي جینۍ په شان موزې په پښو کړې، په اوږده کوټ کې ځان پټ کړي، سره وړینه خولۍ په سراو هم هماغسې وړین مفلر له غاړې تاوکړي، انور پسې منډه کړي او په نرمه سپینه واوره کې یې ورغړي. خو هغې نه موزې لرلې،نه کوټ،نه خولۍ او نه مفلر.

د واده په ورځ چې دا له کلي ښار ته راتله نو یوغټ پټو وربانديې غوړېدلی و،موټر ددوی دکور مخې ته درېدلی واوداهم له هغه وخته په کور کې وه. هغې ورځې شمیرلې،اوس یو میاشت کیده چې موریې نه وه لیدلې،هغې دپلار څېره رایاده کړه او زړه یې راډک شو.

خواښې یې ډېره ښه وه او ورته یې ویلې و چې لارې ښه شي نو کلي ته به یې بوځي،دوی به ټوله ورځ خبرې کولې خواښې ورته دخپل ژوند ښې اوبدې ورځې یادولې،نازو به دانورسره دخبرو ډېره هڅه کوله خو دانور کیسې نه وې زده، که دې به ورته څه کار وکړو نو په سترګو کې به یې دمننې یوه څپه تیره شوه خو نازو غوښتل چې انور ورته په خوله یو څه ووایي. هغې به ځان جوړکړو خو دانور له خولې نه یوه خبره دستاینې نه راوتله. یوه ورځ هغې سترګې ښې توري کړې سره اوشنه رنګونه یې له سترګو چاپېره ووهل،هم هاغسې لکه چې په هندي فلمونو کې به جینکو وهلي وو،شونډې یې سرې کړې په مخ یې دومره پوډر وهلي و چې دا لکه جاپانۍ نانزکه ښکارېده. نازو هوډکړی وچې نن به د انور له خولې یوه ډېره ښه خبره راباسي. د انور ګلابي رنګ خوښیدواونازو دخپل واده د جوړو نه یوه ښایسته ګلابي جوړه واغوسته. انور نن مازدیګر له کاره راتلواوهغه ویلي و چې نن دغرمې ډوډۍ به په روغتون کې خوري. نازو به بیا بیا ګړۍ ته کتل څلور بجې شوې،خو دانور درک نه و،دهغې تلوسه په زیاتېدو شوه،په تیرو دوو ساعتو کې هغې پنځوس واري ځان په هنداره کې کتلی و،خواښې یې صفت کړی و او نازو ډاډه وه چې انور به ارومرو دې ته ګوري او یو څه به وایي،هغه نن ډېره ښایسته شوې وه،پنځو بجو ته یو څه وخت پاتې و چې دروازه وټکیده او انور رادننه شو.

نازو نه پوهیده چې څه وکړي، نور کله به یې ورته ډېر په ادب سلام کووخو ناڅاپه هغه وارخطا شوه ژردپخلي کوټې ته لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library
دچایو لوښي یې راواخیستل، انور چې مخ لاسونه ووینځل نازو چای دم کړی و. بیا دوی درې واړه کښیناستل او چای یې وڅښلې. انور نازو ته یو نظر وکتل خو هیڅ غږ یې ونکړو.

دهغې هم داسې ټمه نه وه چې انور به دمورپه وړاندې دې سره خبره وکړي.

هوا اوس ماته شوې وه او دوی بخارۍ نه بلوله خو انور دخپل عادت سره سم هم هلته په قالینه وغزیدو،نازو په فکرونو کې شوه چې څنګه د یو څو شیبو لپاره دهغه پام ځان ته واړوي خپلې کوټې ته ولاړه، هلته دالمارۍ په سر یو صندوق ایښی وچې په کې دنازو واده ځینې شیان و، هغې وروغوندې انور ته وویل" تاسو ته وایم... دا صندوق خو راته له المارۍ راښکته کړئ" هغې تر اوسه انور ته نوم نه اخیستو،انور پاڅیدوکوټې ته ولاړو او المارۍ ته یې لاس ورغزولی وچې ناڅاپه نازو ورته ځان وړاندې کړ او ویې ویل"ته ماته ولې نه راګورې؟" انور خو لومړی تندی تریو کړو، بیا لږ موسکی شو او نازو ته ځیر شو، هغې له حیا سترګې ښکته کړې ولې ژر یې ورته بیا وکتل چې دانور په سترګو کې دخوشۍ احساس ولټوي. دانور له شونډو موسکا ورکه وه.

دهغه له سترګو داحساس رڼا نه ښکاریده نازو یو څه نا ارامه شوه اوبیا یې ورته په ګیله منه لهجه وویل"څه خو راته ووایه ...زه څنګه یمه"دانور سترګې وبرېښیدې خو مخ یې دمیز لورې ته واړو.

هلته دکاغذي رومالونو دډلې نه یې یورومال راواخیستو او دنازو مخ یې پرې پاک کړ. هغه هکه پکه ولاړه وه،سپین کاغذ په ګلابي پوډر او په سرخي ولړل شو. انور هغه کاغذ په میز وغورځو او په ډېره نرمه لهجه یې ورته وویل"خپل ښکلی مخ په دې مصنوعي شیانو مه خرابوه"بیا یې صندوق له المارۍ راښکته کړو او په ډېر ټیټ غږ یې وویل"ته په خپله ډېر ښایست لرې او زما هم دغسې خوښه یې"دایې وویل او له کوټې ووتلو. نازو هم هلته په ځمکه کښېناسته ،د ډېې نه یې یو بل کاغذي رومال راوخیستواودسترګو اوښکې اونور شین رنګونه یې ورسره یوځای پاک کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نيکه بابا بنګله

زه په تقدير باور لرمه خو پلار به راته ويل چې هر انسان هم هاغسې ژوند تيروي چې تيرول يې غواړي... ځينې خبرې دي چې مونږه يې بدلولی شو،هم دا وه چې مونږ څلور وروڼه خويندې يې په ښونځيو کې داخل کړي وو.

زه تر ټولو مشره يم، لسم ته چې ورسيدم نو ځينې خلک زما دغوښتو لپاره راتلل خو پلار مې له ما ډاکټره جوړوله...په هغه سپيرو ورځو کې دموټر ديوه ټکر پيښه داسې وشوه چې زمونږ کور پرې ويران شو، پلار مې مړ شو. هغه سرکاري ملازم و او ځمکې مو په کلي کې له ترونو سره وې، دوی به دخپل حق جوار غنم کال په کال رارسول، ماماګانو او تروريانو به هم وخت ناوخت زمونږ سره لاس کوو.

هر چا سره زمونږ د يتيمانو غم و ،زما د غوښتو لپاره چې کوم خلک راتلل دوی بيا تګ راتګ پيل کړو. هلک په بهر هيواد کې و، په ښار کې يې ښه کور و، زما دمورلپاره دا ښه موقعه وه چې له ما ځان بې غمه کړي. زه دومره ښکلې هم نه وم. اخر دکوژدنې ورځ وټاکل شوه، خپلوان مې د کلي نه هم راغلل او څو ورځې زمونږ کره ډېره و. دهلک کورنۍ درواج سره سم زما لپاره کالي پترې او نور شيان په يو صندوق کې راوړل او بيا ټولو ته وروښودل شول. زما په سريې سره بنارسي واچوله او دسرو زرو يوه ګوته يې راته په ګوته کړه خوپه ښځو کې پټې -پټې خبرې رواني وې. مازديګرچې ټول خپلو کورونو ته ولاړل نو زما مور ډېره خفه وه زما دترروريانو سره کښيناسته او ټولې ګاڼې يې بيا راواخيستې. ښځو دا ويلې و چې ګاڼې داصل سرو زرو نه وو،خبره خو رښتيا وه زما لپاره ښکلې ګاڼې له اروپا راوړل شوې وې،ډېر غمي په کې لګيدلي وو،خو دا اصل نه وو. دښځو دا خبره سړو ته هم ور ورسيده ،ګاڼې د ښار زرګر ته يوړل شوی، هغه د سرو زرو بيه ډېره لږه وښودله. وروستۍ خبره يې داوه چې داسې ګاڼې څوک ناوې ته نه کوي او که زما لورته چا داسې سره راوړې وای نو ما به ورته بيرته ورکړي وی.

اوس نو زما ترونو داسې فکر کاوو چې ګوندې دهلک کورنۍ ورسره درغلي کړې وه، هغوی هم خبرشول او خپل دليل يې ورته وړاندې کړو. دا چې نن صبا داسې ګاڼې د خلکو ډېرې خوښيږي اوداګاڼې په ډېرو پيسو شوې دي خو هيچا دا خبره نه منله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخر دوی په جرګه کې دنورو سرو زرو دګاڼو دجوړولو خبره وکړه،خو زما په خپلوانو کې یوه څه بد ګوماني پیدا شوي وه،زما مور به سحر ماښام داخبره کوله"بیخ دې دسرو زرو ووځي خبره داعتبار ده"لنډه دا چې خبره ختمه شوه اودکالو صندوق بیرته دهلک کورته ورواستول شو. ما په دې ورځ ځان په کوټه کې بند کړو او ښه مې وژړل، څو ورځې مې ډوډۍ ونه خوړه مشر تره مې راغلو زما په سر یې لاس کیښودو او راته یې وویل اوس به ستا خبره منل کیږي، وایه څه غواړې؟ما ورته وویل زه نور تعلیم کول غواړم.

زه پوهیدمه چې زما په کورنۍ کې هیچا په پوهنتون کې سبق نه و ویلی،جینکۍ څه چې هلکانو به هم د ښوونځي نه وروسته یا به ځمکې ساتلې یا به یې کاروبار کاوو. اخرمشرتره مې خبره ومنله زه په پوهنتون کې داخله شومه،له ما کشرې دواړو خویندو هم سبق ویلو،دوی تر ما ښایسته وې یوه د تره او بله د ماما د زوی په نوم وه.

دوه کاله نورهم واوړیدل او زما د وروستیوامتحانونو په ورځو کې زما دواده لپاره بل پیغام راغی.

مور مې وارخطا شوه خو دا خلک مې ماماګانو پیژندل، هلک لکه زما په شان یتیم و ، د هغه مور له دې هم خبره وه چې زه یو وارې کوژده شوې وم .زما ماميګانو به مې مور ته ویل چې زبیدهډېره خوشبخته ده چې خلک یې اوس هم غواړي. دهلک کورنۍ شریفه وه، بیا دکوژدنې ورځ وټاکل شوه وداځلې زما مورلږ کسان خبر کړل. ما شکر ویستلو چې سبق مې پوره کیږي او نوی ژوند به مې هم ارامه وي. خو دکوژدنې دمخه دهلک ترور زمونږ کره راغله، زما له مور سره یې یو څو پټې خبرې وکړې او ژر بیرته ولاړه. زما مور ساه نیولې په خپل ځای ناسته وه، رنګ یې تښتیدلی و، ما ورله ژر اوبه ورکړې. پوښتنه مې ترې وکړه چې څه چل دی،هغې وویل چې دهلک کور ته چا لیک ورلیږلی دی چې زبیده وړاندې کوژدن شوې ده او که همهغه ځای واده نه شوه نو هر څوک چې ورسره واده کوي سر به خوري،زما ماما ګان دهلک کورته ولاړل چې هغوی ته ډاډورکړي. ترونه مې دټوپکو سره دهغو نورو خلکو په لټه ولاړل دکوژدنې شیریني هم دغسې پاتې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو نورو خلکو درک ونه لگیدو چې څه شول، ددې هلک مور وویل چې ماښوله ځواني کوندېتون کې دخپل زوی لپاره خاورې کړه، زه نه غواړم چې د پردۍ جینۍ لپاره څوک زما زوی ووژني.

ما داخبره ډېره په سړه سینه واورېده،ارمان مې شو چې کاشکې دا سړی پیدا کړم او ورته ووایم"ته سخت بې غیرته یې"خو هیڅ مې ونه کړل. ماما ګانو مې ځان ملامته ګڼلو، ما یوځو ورځې دخپل قسمت ماتم وکړواو بیا مې ټولو ته خپله فیصله واوروله"که له دې وروسته چا زما لپاره دواده پیغام راوړو،نو زه به ځان په خپله وژنم "دزړه نه مې یو لوی پیټی لیرې شو نو په یو ښوونځي کې ښونکې شوم. زما دکشرو خویندو ودونه یوځای جوړ شول ،ورور مې ښونځی خلاص کړ،و،اواوس دترونو سره یې دکاروبار چل زده کاوو.

هیڅا به راسره د واده خبره نه کوله بس یو مور مې وه چې لکه شمع ورو-ورو وېلیده،په کور کې دا او زه یواځې وو،د اوونۍ په پای کې به مونږ کلي ته ولاړو اوهلته هم زمونږ د شریکې کور و،زمونږه دحجرې سره نږدې دځمکې په یوه ټوټه یوه ډېره پخواني قلا وه،چې اوس شاړه پرته وه،او مونږ به ورته دنیکه بابا بنګله ویله،په اصل کې زما نیکه ډېر روشن فکره سړی وهغه غوښتل چې په کلي کې دماشومانو لپاره ښونځی جوړ کړي، دهغه وخت حکومت ورله اجازه ورکړې وه،دقلا یو څو کوټې جوړې شوې وې چې دی مړ شو،بل هېچا بیا دا ونکړای شول چې دښونځي لپاره منډې ترړې ووهي،هسې هم دکلي خلکو په خپلو وړو سبق نه ویلو،زه به چې کلي ته تلمه نو شاړه بنګله به مې ضرور لیدله.

زمونږ په کلي کې اوس څو تنو تعلیم کړی و،اورېدلي مې و چې یو څو جینکۍ په بسونو کې نږدې ښارګوټي ته دسبق لپاره ورتللې،ما چرتونه وهل چې که دا بنګله اباده شي نوځومره ماشومان به په کې زده کړه وکړي،هر وختې به مې له ځانه سره کرل ریبل خو ځان به مې یواځې احساسوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپسرلي رخصتۍ وې مونږ په کلي کې وو، يوه ورځ له ترور سره له کوره وتلمه چې ترونو سره مشوره وکړمه، دغرمې مهال و په کوڅه کې څوک نه و،خو نابره يو ځوان مخې ته راغی چې ما نه پيژندلو دی ودرېدو په مونږ يې سلام واچوو،او زما له ترور سره يې حال احوال وپوښتلو، ترور مې راته مخ واړو او ويې ويلو"زيبدې دی دې ونه پيژندلو؟"ما سر وخوځوو" بختيار دی کنه" زه حيرانه شومه بختيار وړوکی هلک واو دنورو ماشومانو سره زمونږ کورته دلوبو لپاره راتلو. کله کله به يې په غولي کې ولاړ دمنې ونې ته وختل او کچه منې به يې راشوکولې. يوه ورځ ما لښته راواخيسته نو ټول واړه وتښتيدل،خو بختيار په ونه کې ونښتو او ترډېره وخته زما دلښتې له وېرې هم هلته ناست و، بيا مې مور راغله او دی يې له ما خلاص کړو. هغه وخت ما ورته ويلې و چې که بيا مې وليدې نو پښې به دربانډې ماتومه. زه په پوهنتون کې اومه دی په اتم يا نهم کې و.

خو اوس چې ما وليدو نو لوی سړی و ماته يې په داسې سترګو وکتل چې زه نا ارامه شومه. لهکوځې ووتلو نود ترورنه مې پوښتنه وکړه "دی اوس څه کوي؟" هغې راته وويل "په اينځری کې استاد دی"اينځری کلی زمونږ دکلي سره جوخت واو دپټيو له لارو به خلک ورته په پښوورتلل.

راتلونکې څوورځې زه دترونو کره ګرځيدمه چې دنيکه دښوونځې بيرته جوړولو رضا ترې واخلمه. دوی څه مخالفت نه کوو،خو دکوټو دجوړولو لپاره پيسې په کار وې او دوی نغدې نه لرلې.

يو مازديګر څو ښځې زمونږ کورته راغلې، په دې کې دبختيار مورهم وه چې ما پيژندله. دوی چای وڅښلې او څو شيبې زما له مور سره کښيناستې. زه دکور په نورو کارونو اخته شومه.

ماښام مور راسره يواځې کښېناسته او راته يې وويل"تا اوس ټول عمر يواځې دتيرولو فيصله کړې ده؟"په دې پوښتنه کې ډېر ځوابونه و، زه يو څه پوهه ومه چې دبختيار مور يواځې زمونږ ليدو ته نه ده راغلې خوکله چې مور راته وويل"دوی تا غواړي" نو په وجود مې اور بل شو زه داتو ويشتو کالو يمه او بختيار دنولسو کالو دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه اوس دومره مجبوره شومه چې يو ماشوم راسره واده کوي"زما له سترګو اوښکې روانې وې مور راته خبرې کولې خو زه نه پوهيدم چې نصيحت يې راته کوو او که ماسره يې زړه خواله کوله. زه په قهر اومه داسې راته ښکاريده لکه چې بختيار راپورې ملنډې وهلې. بيا بيا به مې له ځانه سره ويل "زه دده خيرات نه اخلمه"دی به ټول عمر په ما احسان کوي چې " ته خو دوه وارې پرېښودل شوې وې، ما وکړې". مور ته مې په کلکه وويل چې زه دهيڅچا خيرات نه اخلمه هغه حيرانه وه،زما خويندې خبرې شوې نو هغوی هم حيرانې وې،دکلي ټول خلک چې خبرېدل حيرانيدل. بختيار زما ترونو اوماما ګانو ته جرګې وکړې،او زه ددې خبرې نه دومره وېزاره شومه چې بيا مې ښار ته کډه وکړه،هلته دترور دوه انړيندې راپسې شوی. خو هيڅوک زما په احساس نه پوهيدل ټولو ته دا خبره بې مانا ښکارېده چې دی له ما کشر و.

يوه ورځ چې دښوونځي نه کورته راغلمه نو دميلمنو په کوټه کې څوک ناست و،د ترور لمسي راته وويل"بختيار کاکا راغلی دی"زه دده جرات ته حيرانه شومه "څومره کلک سترګی دی" مور مې راغله اوراته يې وويل بختيار وايي "ته يوواري زما خبره واوره بيا به دې نه په عذابوم" په کور کې مې هغه وخت ورورنه و که نه ددې خبرې هيڅ امکان نه و چې زه دې يو پردي سړي سره کښيناستلې وای،يو لوی څادر مې په سر کړو مخ مې نيم پټ کړو خو بختيار په کوټه کې داسې ناست و چې سترګې يې ځمکې ته نيولې وې. زه ده ته ښه ځير شومه سلام مې ورته وکړو ده هم هاغسې په ټيټو سترګو ځواب راکړو، بيا يې خبرې داسې پيل کړې لکه چې ماته کيسه کوي"څو کاله کيږي ستا دماما واده و سخت بارانونه شوي وو، سيندهم راختلی و" ما نه دخپل کشر ماما واده نه وهېر،دکلي ټولو خلکو ته داواده په زړه وځکه دومره بارانونه شوي و چې خلکو دسوزلو لپاره لرګي نه لرل،له ښاره به يې پخه ډوډۍ راغوښتله بختيار وويل"په کوم ماښام چې تاسو دناوې کره نکريزې وړلې زه دلاريو اډې ته په پښو روان وم.

زما دلسم امتحانونه و، دلاريو په اډه کې دشپې به ځينې هلکان راټوليدل چې يوځای سبق ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت باران تم شوی و، تاسو ټولو جینکو دنکریزو تالوله اخیستي و او دبرجومات په لاره دویالي سره رواني وی. یوې جینۍ ټمبل غږوو او تاسوټولو ورسره سندرې ویلې چې یوه مصرعه اوس هم زما په زړه ده ،"شمعې پرې سپرې دي جانانه". بختیار چې دا مصرعه وویله نو زه په خندا شومه خوځان مې ونیولو،دی یوه شیبه غلی و بیا یې وویل" یوه جینۍ په ختو کې وښویده نو تاسو ټولو په برچ وخاندل، تا دنکریزو پتنوس ترې رانیولی و او په دې کې دې نکریزې او مړې شمې سمولې راسمولې، بیا تا دیوې جینۍ نه اورلګیت واخیستو او مړې شمې دې بیرته بلې کړې. زه دویالي په بله غاړه یوې ونې لاندې ولاړ وم ستاسو ننداره مې کوله. کله چې تا دنکریزو په تال کې شمعې بلولې نو هغه وخت ما یوه دعا کړې وه چې"خدایه پاکه داجینۍ به ماته راکوې"دبختیار ددې خبرې په اورېدو زما وجود وریږدیدو،او له سترګو مې یې واره اوښکې رواني شوې.

دی ډېر په اخلاص راته لګیا و،خو ماته دنیکه بابا دبنګلې ښوونځی مخې ته ودرېدو،زما په ژوند کې اوس هم دغه کار و چې کول مې غوښتل ما ورته وویل" زه اوس د واده په هکله فکرهم نه کومه. زه په کلي کې ښوونځی پرانیستل غواړمه" بختیار په لومړي ځل سترګې اوچتې کړې او زما په لورې یې وکتل ،"که په ما اعتبار کوې نو زه درسره لوظ کوم چې دا ښوونځی به مونږ دواړه جوړو، زه دتعلیم په وزارت کې یو کس پیژنم چې راسره مرسته کولی شي. نابېره زما زړه په ټوپونو شو. تراوسه بختیار راته ماشوم ښکارېدو،خوددې خبرې په اورېدو راته احساس وشو چې زه خو ډېر قوي ملګرې لرمه.

بختیار دخپله جیبه دمخملو یو وړوکی ډبی راوویستلو او په میز یې کیښودو.... بیا پاڅیدو او په تلوتلو کې یې وویل: "زه پر تا احسان نه کوم خودومره خبر یم چې ته زما لپاره یې او زه دې کوم" دی زمونږ له کوره ووتلو، زه هم هلته ناسته اومه دبختیار په خبرو زما دزړه. بورجلونه وخوځیدل، خبره نه شومه چې څه وختې مې موړراغله او راسره کښیناسته،هغې دمخملو وړوکی ډبی له میزه را اخیستی و،او ورووړو د دې سر یې پرانیستلو. په دې کې دسرو زرو یوه ساده چله (ګوتمه)ایښې وه، نه ورباندې غمی لګیدلی و او نه ورباندې کار شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبم چاودنه ډېره زوره وره وه،دښار په لوی روغتون کې هم ددې غږ واورېدل شو چې دپيښې له ځايه لس کيلو متره لېرې و. ددې روغتون مشر ډاکټر سمدلاسه ټولو ډاکټرانو او نرسانو ته امر وکړو چې اضافي کټونه دې تيار کړي. هغه مريضان چې ناروغي يې دومره سخته نه وه دکټونو نه ايسته کړی شول. ځينې په کې په خپله راپا ځيدل او خپلو خپلوانو يې هغه کوله چې ژر تر ژره له روغتونه يې وباسي. دروغتون ايمبولانسونه په تيزۍ سره راويستل کيده، ددوی چلوونکو دغرمې ډوډۍ نه څکه هم نه وه کړې،غزال دوه نورۍ خوړلې وې او دنورو په شان يې زر ځان چمتو کړو چې دټپيانو مرسته وکړي. په لومړي ايمبولانس کې درې ماشومان و،شاهده ا و خليل ور وړاندې شول،په بل کې دشپاړسو کالو يوهلک و،جامې يې شلېدلې او دپرهرونو نه يې وينې رواني وې،غزال ور وړاندې شوه،په ايمبولانس کې ورته اکسيجن ورکړل شوی و،او له خطره بهر ښکارېدو،دايمبولانس مرستندوی وويل: "ددويمې درجې مريض دی"غزال پوهه شوه چې دوينې اړتيا وه. فيصل ته يې چيغه کړه او هغه ته يې د وينې د نمونې اخيستو وويل. د هلک د سر ټپ دومره ژور نه و،غزال دستانې په لاس کړې او ددې هلک دوجود دپرهرونو په لټه شوه، د هغه ټول وجود غوړ اوخيرن و،دجامو نه يې دپټرولو بوی تللو،غزال له ځانه سره فکر کاو چې دا به کوم مستري وي،په لړه شېبه کې هغې دده له لينګو پتلون قيچي کړو هلته دسوځېدو نښې وې،په پوښتۍ کې يې يوه وړه ټوټه اوسپنه خښه وه چې غوښه يې ځيرې کړې وه او وينې ترې رواني وې،غزال چې ټول پرهرونه ورله پټ کړل،نو ددمې لپاره يې دديوال سره ډډه ولګوله،ډاکټر خالد چې له يو مريض بل ته روان و،ددوی په لورې ورغی،دهلک دپرهرونو په هکله يې غزال نه پوښتنه وکړه. که څه هم دهلک رنګ ژيړ بخن شوی و،خو غزال ته يې وويل:"وينې ته اړتيا نه لري ګلوکوز(سيرم) به ورته بس وي، بيا په تلو -تلو کې هلک ته يو نظر وکتل او ويې ويل:"وجود ورته پاک کړئ که نه دانفکشن خطر شته"غزال هم له دې خبرې وېرېده او په خپل مسلک کې يې هم له دې کاره بد راتلل، دبې هوښه مريضانو پاکول به هغې داسې ګڼله لکه چې غلا کوي يو انسان خبر نه وي او دوی...

(c) ketabton.com: The Digital Library
هغې په سپرټ کې مالوچ لامده کړل او لومړی یې دده خیرن لاسونه چې په تیلو او خاورو ککړ و پاک کړل،خواوشا یې کتل که څوک همکار ورته راشي نو دا مریض به ورته وسپاري،خو اوس نور ټپیان راوړل شوي و. یو چا دګلوکوز دخیجولو الات ورته راوړل او په منډه بل مریض ته یې مخه کړه. وخت کم و،غزال په تودو اوبو کې مالوچ او سفنج ایښي و او دهلک وجود یې زر زر پرې پاک کړو. بیا دګلوکوز دخیجولوڵپاره یې دهغه لاس راواړو او دیو راوتلي رګ دپاسه یې دستني څای په نښه کړو،د هلک لاس ورپیدو خو بیا ارامه شو،نابېره هغه سترګې وغړولې او غزال ته یې وکتل، په خیرن مخ د هغه سترګې عجیبه ځلا کوله. خو ډیر ژر بیا یې سترګې پټې کړې،دګلوکوز دکڅوړې نه یو-یو څاڅکی راتویدو او دهلک رګونو ته ورداخلېدو،غزال یوه تولیه پیدا کړه، په ګرمو اوبو کې یې لمده کړه او د هلک مخ یې وربانديې پاک کړو،خیري او وچې شوې وینې په تولیه کې جذبې شوي او دهلک دځیرې زیږ بخنه څرمنه را څرګنده شوه. غزال داسې احساس وکړ لکه چې په یوه ښکلې هنداره پرتې دوړي پاکوي. دهغه هلک نسواري ګلګوتي ویښته لنده،غزال تولیه یووارې بیا لمده کړه او دده سر یې پاک کړو. په وجود کې دا هلک دشلو کالو ایسېده،خو مخ یې لکه دڅوارلسو پنځلسو کالو ماشوم وۀ، نري-نري ویښته یې دنوي خرئیل شوې ږیرې غمازان و. په روغتون کې اوس دخلکو ګڼه هم زیاته شوې وه،دزخمیانو چغې،دښځو او ماشومانو ژړا،دنرسانو منډې ترړې او دامبولانسونو نه د راښکته شویو کسانو د ټرالیو دپایو غږونه یو عجیبه وحشت جوړ کړی وو.
غزال د هلک له کټه وخوځیده او یو بل ټپي ته ودرېده چې ساه یې لنډه لنډه کیده،هغه ته یې داکسیجن خولئ پر پوزه کیښوده او چې ساه یې ارامه شوه نو دهغه دپرهرونو په لټه شوه. هغه کسان چې لږ زخمیان و ددرملنې نه وروسته کورونو ته ورواستول شول، دځینو خپلوان خبرشوي واو روغتون ته یې ځان رسولی و. دځینو نورو په جیبونو کې د پیژندګلوئ پاڼې راوتلي و،او ددوی دکټونودپاسه په میخ شوو دړو یې نومونه هم لیکل شوي و، درې وارډونه پورا ډک وو. غزال نه پوهېده چې دڅومره کسانو وینې یې پاکې کړې وې،د هغې مغزو شمېره نه کوله دنورو پټیو داخیستو لپاره په برنډه کې روانه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نا ببره دټيلي ويژن دکيمرې سترګه پرې برابره شوه.   يو ژورنالست د خپل مايکروفون سره ورته راوړاندې شو،له دې يې څه وپوښتل خو غزال ورته رډ رډ کتل او هم هاغسې د داروګانو سټور ته ولاړه. يوه ټرالی دسامانونوسره يې په مخه کړه او دې لا نورو ټپيانوته ځان نه و رسولی چې ډاکټرخالد يې مخې ته راغی"دهغه ځوان حالت خراب دی ژر ورته اکسيجن ورکړه"،په روغتون کې اوس په لسګونو ځوانان داخل شوي وو،خوغزال پوهه شوه چې خالد کوم ځوان يادوي. هغې دسامان ټرالي فيصل ته وسپارله او په خپله يې دځوان کټ ته ځان وررسوو، يوې نرسې دهغه لاس نه راوتلې دګلوکوز ستنه بېرته په رګ کې وروټومبله خو دهلک دخولې نه داسې غړونه راوتل ته به وايې چا يې مرۍ خپه کړېده، غزال په منډه داکيسجن خولۍ راواخيسته او دهغه پر پوزه يې کېښوده. ماښام مهال دغزال دنده ختمېده،خو نن دوی ته وويل شول چې دآرام په کوټه کې دې څو ساعته خوب وکړي او د شپې لپاره دې تازه دم شي،په سختو ټپيانو کې اوس درې تنه پاتې وو،يو کس داپريشن په مېز مړ شوی و، دوو نورو په لاره کې ساه ورکړې وه،يوچا غزال ته خبر ورکړېو،خو هغه دومره ستړې وه چې دا ټولې خبرې ورته بې مانا ښکارېدې،په تيرو دوو کالو کې دهغې دمسلکي ژوند دا دوېيمه لويه پيښه وه او دتيرې پېښې په پرتله اوس يې اعصاب پرځای و. درې څلورساعته خوب يې نا ارامه و، دشپې نهه بجې غزال يو څه وخوړل او وارډ ته ولاړه. په دريو کې يو بل تن هم مړ و، ځوان هلک چې نوم يې چاته نه ومعلوم داکسيجن په خيمه کې پروت و. داسې ښکارېده چې په سر کې يې زخم جوړ دی خو دی يې هوښ ته نه پرېښودو دده پوښتنې ته تراوسه څوک نه وو راغلي،دغزال زړه را ډک شو،په دومره وړوکي عمر کې خدای خبرچيرته يې مزدوري کوله،مور به يې خبره وي که نه، مور لري او که نه، پلار به يې چيرته وي، وروڼه خويندې... هغې دځوان لاس ونيولو،يو څو شېبې ورته ناسته وه ډاکټر حمدي را ښکاره شو،دده نبضونه يې وکتل بيا يې داکسيجن دلېرې کولو امر وکړو،اکسيجن چې بند شو،نو هلک هم هاغسې ارامه ساه اخيسته،غزال ته يې وويل: "ته همدلته اوسه اوڅارنه يې کوه" غزال يوه تپايي راښکله او په هغې کښېناسته،دهلک مخ ته په ځير وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

"چې نوم به يې څه وي"هغې دهلک لاس ته پام کړو، دګلوکوز ستنه ټراوسه په کې ټومبلې وه خو په کڅوړه کې نورڅه پاتې نه و. غزال ستنه او شنه پلاسټيکي کينوله راوويستله ، هغه ځای چې شين شوی و يوه پټۍ يې پرې سليخ کړه، بيا يې ورو-ورو دده لاس ومښولو دهلک پرمخ يوڅه رنګ ښکاره شوی و،غزال ورباندې غږ وکړو" ته زما خبرې اورې نوسترګې پرانيزه"دهلک بانه ورورپيدل ،او غزال پوهه شوه چې دی په هوش کې دی لږه شيبه نه وه تيره چې هغه وټوخيده غزال دهغه سر په خپلو لاسونو کې ونيولو داکسيجن دليرې کيدو وروسته کله-کله مريضان ټوخيدل او ددې خبرې نښه وه چې دی له خطره بهر دی غزال پرې بيا غږ وکړو"سترګې پرانيزه"هلک ورو غوندې سترګې وغړولې غزال ورته موسکۍ شوه ته اوس جوړيې؟ نوم دې څه دی؟هلک څو شيبې غزال ته کتل نا ببره يې په سترګو کې وحشت راښکاره شو نږدې وه چې له کټه را پاڅيدلی وی خو غزال را ټينګ کړو. "ته په روغتون کې يې...."هلک خپل لاس ته وکتل بيايې خوا شا سترګې واړولې،غزال ورته ووېل:"ته په چاودنه کې زخمي شوی وې"چاودنه...بم... هلک دشونډو لاندې ووېل بيا يې سترګې له اوبو ډکې شوې بل لاس يې په سترګو کېښودو اوغزال وليدل چې اوښکې دده پرانګو راواني وې،هغه نه پوهېده چې څه وکړي په دې کوټه کې يوبل مريض اوس ويده وو، غزال دهلک لاس په خپل لاس کې ونيولو اوورته يې ووېل:"که څوک خپلوان دې وي چې خبر يې کړو"هلک ناڅاپه دغزال لاس کلک ونيولواو غزال ته يې ووېل: "زه وبربرمه ...مامه پربرده...دوکان ...ماسره په دوکان کې شفيق هم وو...دوکان...موټرونه ... يا خدايه ...اوس هغه به چيرته وي"دهغه وجود په ربرډېدو شوغزال اوبو ته لاس کړاو دده خولې ته يې وړوکی ګيلاس ونيولو، هلک يو دوه ګوټه وکړه اوبيا په ټوخيدو شو،غزال دهغه په تندي لاس کيښودو او ورله يې تسلي ورکړه بيا يې ترې نوم وپوښتلو "ايمان" غزال په دړه د هغه نوم وليکلو د هغه په تندي يې دوجود دحرارت معلوموللپاره يو توره پټۍ کيښوده، بيا يې يو څو جملې دراپور په توګه وليکلې او له ده يې پوښتنه وکړه"ته توان ته اړتيا لرې، زه درته ډوډۍ راغواړم" دايمان زړه ډوډۍ ته نه کيدو خو غزال دومره په محبت ورسره خبرې کولې چې ده ورته په تندي لاس کيښودو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزال ډاکټرحمدي خبر کړو او د معاینې نه وروسته یوځلې بیا دایمان دکټ سره جوخته کیناسته او د ډوډۍ وړې-وړې مړۍ یې ورته په خوله کې ورکولې،ایمان اوس یوڅه دخبرو جوګه شوی و،دشونډو رنګ یې دتور نه ګلابي شوی وو،سترګی یې هم ځلېدې دډوډۍ نه وروسته ایمان ورسره ټوکه وکړه"سیګرټ څکلی شم"دغزال تندی تریو شو اونبړدې وه چې ورباندې په قهر شوې وای چې دایمان په سترګو کې یې شوخي ولیده، او بیا یې وویل:"ته آرام ته اړتیا لری که څه شی دې په کار وي دکټ په سر کې زنګ لګیدلی دی دا ووهه." په راتلونکو څو ورځوکې غزال هره ورځ دایمان پوښتنه کوله،د هغه د سر اکسری اخستل شوې وۀ اوپه کې هیڅ زخم نه لیدل کیدو، دبم دچاودنې خبرونه په ورځپاڼو کې چاپ شوي و، دایمان مرکه هم په کې وه. په عیني شاهدانو کې دی هم شامل وو، سیاستدانانو خپلې-خپلې بیانیې ورکړې وې. غندنې شوې وې، پلټنې روانې وې، ایمان اوس ډېر ښه شوی و، دډاکټرانو نظر دا وچې په دوو ورځوکې به دی په خپلو پښو ودرېږي او دروغتون نه یې رخصت کړي، غزال به اوس دده کټ ته ډېره لږه راتله،سهار به یې ده نه حال وپوښتلو اوبیا به نورو مریضانو سره اخته وه. ایمان غوښتل چې دا دې زیات وخت ورسره وي او یوه ورځ چې غزال ته یې ګیله وکړه چې اوس یې پوښتنه نه کوي نو هغې ورته وویل: "ته اوس ښه شوی یې"زما ډیوټي دهغو مریضانو سره وې چې دمرګ خولې ته روان وي زه نرسه یمه دایمان لپاره ددې خبرې زغم ګران وو،خو په بله ورځ چې ډاکټر ورته د کورته دتللو اجازه ورکړه نو دی دغزال په لټه کې شو،غوښتل یې چې هغه خپل کور ته راوغواړي،ډوډۍ ورله وکړي،ملګرتیا یې وپالي.... خو د روغتون دځانګی (وارډ) دروازه کې یې قدم ونیولو ،مخامخ دیو پوخ عمر سړی په کټ پروت وو، ښایي دټریفیک کومه حادثه شوې وه بهر پولیس هم ولاړ و،غزال دهغه سړي لاس په خپل لاس کې نیولی و،دتندي نه یې ورته وینې پاکولې،سړی په هوښ کې وو. غزال ته یې په ډکو سترګو کتل،اوغزال په ډېر سکون ورسره ورو-ورو خبرې کولې،ایمان هم له هغه ځایه دخپل کورپه لورې روان شو،په غوږ کې یې دغزال خبره بیا-بیا اورېده"زه نرسه یمه.....زه دټولو په پرهرونو پټۍ ږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځواک

زه اوس هم حیران یم چې دورځپاڼو دګڼډی دپاسه ایښي دنیمي روپۍ سیکه مې ولې را اوچته کړه،ځان رانه څو-څو واري داپوښتنه وکړه چې ولې مې دا کار وکړو،خو هیڅ ځواب راسره نشته.   اوس چې جیب ته لاس کړم نو داسیکه مې په ګوتو ولګي اوزه خپل لاس دومره په وارخطایئ له جیبه را وباسم ته به وایې کوم لړم چیچلي یم، اوس نیمه ورځ تیره ده، دچایو لپاره مې پیسې ملګري نه قرض کړې ځکه زماد وړو پیسو بټوه هم په دې جیب کې ایښې ده اوزه اوس دخپل جیب نه وېرېږم.  نن سحر زه څومره خوشحاله اوارامه له کوره ووتلمه،د بس تمځي پورې مې په لاره ځان ته ویل چې ژوند ډېر ښه شی دی، دخدای پاک شکرونه مې ایستل چې زه روغ وجود لرم.  د تمځي سره نږدې داخبارونو او مجلو یوه وړه هټۍ ده،زه هره ورځ له دې هټۍ ورځپاڼه اخلم، کله-کله داسې کېږي چې زه دپنځو یا لسو روپو نوټ هټۍ وال ته ورکړم او تر څو چې دی ماتې پیسې راکوي نورې سورلۍ بس ته ختلي وي،داسې خو چېرې نه وشوي چې بس رانه تللی وي،خو زه غواړم چې تر ټولو وړاندې ورته وخیژم ،دخپلې خوښې دکړکۍ سره نږدې سیټ کې کښېنم،او تر دفتره ورځپاڼه ولولم، خو کله چې سورلۍ رانه وړاندې شي نو بیا دکښیناستو ښه ځایونه نورو نیولي وي، که قسمت مې ښه وي نو په وروستیو سیټونو کې یونیم ځای راته پاتې وي،که نه په ولاړې سفر کووم،او په ولاړې بیا ورځپاڼه نشم لوستې نو ددې ستونزې حل مې دا را ایستلی دی چې له کوره په جیب کې دورځپاڼې پوره پیسې وړم، هټۍ وال هم اوس خبر وي چې ما شمیرلې ماتې پیسې ورته په لاس کې نیولي وي.  هغه چې ما له لیرې ووینې نو ورځپاڼه راته په لاس کې ونیسي،زهدهغه پر لاس پیسې بردم او په بل لاس ترې ورځپاڼه اخلم.  نن هم داسې وه خو یوه بله پیښه هم وشوه،دهغه مخې ته دورځپاڼو پر لویې ګیډۍ دنیمې روپۍ سیکه چانه پاتې شوې وه، زه چې هټۍ ته نږدې شوم نو سمدلاسه مې ورباندې سترګې ولګیدې اوکله چې هټۍ وال زما پیسې په خپل حسابي دخل کې ورغورځولې نو ما دورځپاڼې دلاندې نه خپل لاس وروړاندې کړو،دا سیکه مې راواخیسته او ژر مې خپل دجیکټ جیب ته وغورځوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما دا کار دومره په چټکۍ وکړ چې اوس هم حیران یم چې دا څنګه وشول، زه عموماً ډېر سست یم او دژر فیصلې کولو توان نه لرم، په کور اودفتر کې هم نور راپورې خاندي چې زه دمعمولي خبرو لپاره هم ډېرسوچونه کووم، نو نن مې څرنګه دا سیکه راواخیسته، هټۍ وال راته دهره ورځ په شان خدای په امان هم وویل، خو ما ترې مخ ګرځولی و او د بس سټاپ په لور په ګړندي ګامونو روان شوم، زه هم دهغې شیبې راهیسې نا ارامه یم. په بس کې راته دخپلې خوښې سیټ غیره خلاصه کړه،خو زه دهرې ورځې په شان خوشحاله نه وم ورځپاڼه مې کتله خو هیڅ نه پوهیدم چې څه په کې لیکل شوي دي، په دفتر کې مې ټوله ورځ واړوله خو نه یم خبرچې تراوسه مې څه کړي دي مشر ته مې څه ویلي دي، هیڅ مې نه یادېږي بس دجیکټ د جیب په تل کې ایښې سیکه راته بلا ګرځیدلې ده. یو وارې مې تکل وکړ چې یوځای کی یې خطاکړم، خو یونا لیدلی ځواک مې لاس وونیسۍ، دسهارراهیسې مې ځان ځوواري تسله کړی دی... داچې په ټوله دنیا کې د ورځې په میلینونو ډالرو غلاګانې کیږي، سیاست وال هره ورځ رشوت اخلي کورونه اوکارخانې جوړوي، زمونږ ددفتر مشر ځوواري په سرکاري ټیلې فون دخپلوملګرو سره خبرې کوي، دوکانداران ځومره غلاکوي، زمونږ کاکا څنګه دپلار په ځمکه خیټه اچولې ده... داهم غلاده...ماما تراوسه زما مورته دپلار دمیراث برخه نه ده ورکړې...او زه... زه دنیمې روپۍ په سیکه نا ارامه یم ...لعنت دې وي پرما ،خو زما وجود او زما روح لکه چې دې سیکې یرغمل نیولې وو،ما دخدای له خوا دومره دجرم احساس نه کاوو، خبر یم چې هغه ډېر لوی او بښونکی رب دی، زه هټۍ وال ته هم دګناه احساس نه کووم، هغه خبر دی چې زه ډېر ایماندار یم، یوځل یې په تادۍ کې راته زیاتې پیسې بیرته راکړې وې، ما په بله ورځ ورته وسپارلې اودی دومره خوشحاله شو چې دیوې نوې مجلې نوې ګڼه یې مفته راکړه، دی زما ډېراحترام کوي. خو زه نن خپل ځان ته عجیبه ایسیدم ،ځان راته وایې"ښه نوټول عمر دې یوه بله ځیره په مخ لګولې وه....تاهم دنورو په شان نن اصلي ځیره راته ښکاره کړه"زه ځان ته په قهر شوم"ټوله دنیا همدغسې ده...دیوې سیکې هیڅ ارزښت نشته دی ما مه په عذابوه"

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا کورته دتللو لپاره چې په بس کې کښیناستم نو ځان راته پټ-پټ خاندل، په مایي ملنډې وهلې، "ښه نو دا دومره موده دې څوک غولول لکه چې په یوه ډرامه کې دې خپل رول لوبوو که څنګه؟"ما سترګې پټې کړې اوځان ته مې وویل: "نارمل انسان تل غلطي کوي...بس اشتباه مې وکړه...بیا به داسې نه کووم"ځان مې غلی شو خو بیا یې لکه دښامار سر راپورته کړو"داپیسې ستا نه وې"ما ورسره استدلال وکړو"دا دهټۍ وال پیسې هم نه دي....یو بل چانه پاتې شوې وې اوس به ددې سیکې خاوند پسې چیرته ګرځم؟ دا نا شونې ده"ځان مې په قهر وویل:"ښه نو اوس داجواز غواړې که تاته دا چانس پیدا شي نو هره ورځ به دا کار کوې، په دې سیکې ستا څه حق دی؟" "حق... زه ناراضه شوم" حق مې په دې دی چې زه دهټۍ وال نه هره ورځ، ورځپاڼه اخلم "...ځان وخاندل" ښه نور" داچې زه هره ورځ کار کووم ...تراوسه مې په چا ظلم نه دی کړی... بله دا چې... ما دخپل ځان په هکله څه ویل خوبس ودرېدو او زما ځای رارسېدلی وو، زه دبس نه ورښکته شوم،دسړک نه پورې غاړې ته چې تیرشوم نو د ورځپاڼې هټۍ رانه څو ګامه لیرې وه، په دې وخت کې به دښوونځي هلکان یا یې کاره ځوانان دهټۍ خوا اوشا دلرګي په تختو ایښې رنګارنګ مجلو ته تاویدل را تاویدل، هټۍ وال به دلرګي په یو تش صندق ناست او چای به یې څښلې. زه دهټۍ مخې ته ودرېدم نو دی ژر را اوچت شو راته یې دچایو ست وکړ،خو ما ورته په انکار سر وخوځاو،دده شاته دلرګي په یو شیلف دسیګرټو قوتۍ،دبسکټو او کاغذي رومالونوړې پیکټې ایښې وې،ما دکاغذي رومالونو وړوکی پیکټ ته اشاره وکړه، ده مخ واړوو،نو ما دجیکټ دجیب نه هغه سیکه را وویستله او ډېر په چټکۍ مې ورځپاڼو په ګیډۍ کې کیښوده "شل پیسې"هغه وویل ما دخپلې بټوې نه پیسې رااوویستلې هغه ته مې په لاس کې ورکړې،درومال پیکټ مې ترې راواخیستو او دکور په لورې روان شوم زما دننه خاموشي ده، بهرهم چپه چوپتیا ده، زه یواځې دخپلو پښو ښکالو اورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دژبې خرپ

نن دبرتانيا په ټولو لويو وړو ورځپاڼوكې زما فوټو چاپ شوى دى،ما سره ملكه ولاړه ده، هغه ماته خاندې او زما سترګې دهغې نرۍ شونډو ته دي چې شوخه سرخي يې پرې وهلې ده، دعكس سره داسې جمله ليكلې ده، "ملكه دكوين ميرې روغتون دايكسرې ديو پرمختللي سيستم دپرانيستې په موقعه ديو ايشيا يي كاركونكي سره"ځينو ورځپاڼودا عكس په دويم مخ كې چاپ كړى دى ځينو يې په وروستى مخ، ځكه چې دنن لوى خبردتركېي هغه زلزله ده چې دوه زره كسان په كې مړه شوي دي.

زما ميرمنې نن دغرمې هغه وخت په ورځپاڼو كې زما عكس وليدو چې د ورځې سودا لپاره زمونږ كور تـه نـږدې دوكـانونو تـه ولاړه، هغـې د سـودا پـر ځـاى ټـولې ورځپاڼې وار په وار ليدې اوهغه ټولې يې كور ته راوړې چې دا عكس په كـې چـاپ شوى و،بيا يې راته دكار ځاى ته ټيليفون وكړو او وويل چې هغـې ټـول دوسـتان او دپيژندګلوې خلك خبر كړي دي چې ورځپاڼه وګوري.

زه خبروم چې هغـې بـه لـومړى ټيليفـون خـان اغـا تـه كـړى وي،دهغـه ښـځه زمـا دميرمنې سياله وه، په هره موقعه به يې دخپلو لويـو-لويـو شـتمنو ملګرو،دهغـوى دكورونو دباغونو دصوفو اولوښو په صفتونو زما مـاغزه او دښـځې زړه خـوړلى وو...
اوس زما ښځې له خداى موقعه په لاس وركړې وه،په كوين مـيرې روغتـون كـې زمـا پنځه كاله كېږي چې دكمپيوټر انجينر په توګه كار كووم،زما له كـاره ټـول خوشـحاله دي،يو كال كېږي چې يوې امريكايي كمپنۍ دايكسري نوى ماشين جـوړ كـړى وچـې ديو كمپيوټر سره تړلى واودېټن پـه يوكليـك (كيكـاږلو) دهـډوكي د هـر اړخ عكـس اخلي. ددې مشين دكار په هكله پنځو كسانو ته تربيه وركړې شوې وه،چې يو په كې زه اوم،پـه تېـرو څـو مياشـتو كـې مـونږ ددې ماشـين د رارسـېدو سره ددې د لګولـو امتحاني دوره كې بوخت وو . تېره مياشت خبر شـوم چـې ملكـه بـه دروغتـون ددې برخې ليدو ته راځي او مونږ به ورته ددې ماشين ښېګڼې ښايو،دملكې دراتـګ دخـبر سره په خلكو كې جوش پيدا شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ مې ولیدل چې په هره برنده کې دلرګینو دروازو په بیخ کې لګیدلې دپیتلو پټۍ پالش کېدې،بهر په هر چمن کې دهر یو بوټي سره یو باغبان لیدل کیدو، ځینې کوټې رنګ شوي ، دکړکیو دشیشو پاکوونکي به هره ورځ راروان وو، دروغتون چار چاپیره دوړوکي دیوال دپاسه لګېدلي اوسپنیزې جنګلې په تور رنګ رنګ کیدې، او ددې لوی دروازې په هر مخ طلایي ټکي په تور مرمر کې برېښیدل. یوه ورځ دروغتون مشر چې ما چیرې نه و لیدلی زمونږ ځانګې ته راغی، دټولو سره یې ښه په خندا خبرې وکړې. زمونږه مشره هم ورسره وه... راته یې وویل چې ملکه به دروغتون کومو برخو ته ورځي اوداچې دهغې دراتللو نه یوه ورځ وړاندې به مونږ تمرین کاوو، په هاغه ورځ لس دولس سړي چې یوشان تورې جامې یې په غاړه وې اوکړه وړه یې دپولیسو وو راغلل،زمونږ مشره دیو څو تنو سره را ښکاره شوه مونږ په خپل -خپل ځای ولاړ وو،زه دنوي ماشین سره اوم او زما کار دا و چې کله راته اشاره وشي نو زه یوی بتنه کېکاږم،ګومان مې نه و چې ددې دومره لوی ماشین تر شا زه به چاته ښکاره شوی وای، زمونږ مشرې دملکې په شان یوڅو قدمه اخوا دېخوا واخیستل،یو څو تنو سره یې په نرمه لهجه خبرې وکړې او یو تن سره د لاس روغبړ وکړو، په هغو دولسو کسانو کې یو تن خپلې ګړۍ ته وکتل او ویې ویل بس دی اوس وړاندې ځو دوی ټول ووتل مونږ بیرته خپل اصل حالت ته راغلو. زه دروغتون په لومړي پوړ کې جوړریستورانټ ته ولاړم او په خپل ځای کښېناستم،له دې ځایه بهر چمن ښکارېدو،دریستورانټ زیاتره کارکونکي ما پیژندل په دوی کې کترین هم وه،چې زما سخته دښمنه وه، دا د پنځوسو کالو یوه بوډۍ وه چې سخته متعصبه انګرېزه وه. یوواری ما ډوډۍ خوړله نو دې زما مخې نه وړه ګلدانۍ اوچته کړه او په بل میز یې کیښوده چې یو سپین پوستي سړی او ښځه پرې نا ست وو، بل واری دډوډۍ پاتې پیسې ماته په لاس کې دراکولو پر ځای راته دلرګي پر تښته کیښودې. ما ددې مشر ته شکایت کړی و،نو ځکه ددې له ما بد راتلل. زمونږ تر منځ یو خاموش سوړ جنګ روان وچې لږ خلک ترې خبر وو، هغې به کله -کله نورو خلکو سره په خبرو کې غږ راپورته کړو او بیا به یې ورو غوندې وویل"زمونږ وطن یې مردار کړی دی"

(c) ketabton.com: The Digital Library

دميزونو دپاکولو پر وخت به يې دشونډو دلاندې يو څه وويل او ماته به يې وکتل، هر څومره وخت چې به ما په ريسټورانټ کې تېرو او هغه به شاواوخوا ګرځېده نو زه به نا ارامه وم ، يو څو همکارانو ته مې دزړه خبره وکړه خو دوی پرې ځان واچوو، ځينو راته وويل: "پروا يې مه لره"نن هم هغې دملکې دراتګ خبره کوله او دنور کله په شان زماځنګ ته دتيرېدو پر وخت يې وروغوندې وويل:"شکر دی چې مونږ ملکه لرو" ما په زړه کې وخندل چې ټوله دنيا په کوم مخ روانه ده او دا بوډۍ په داسې شاهي کورنۍ نا زېږي چې په خپله ددې هيواد دورځپاڼولخوا په ورځ کې يوځلې خو بې عزته کيږي خيرزما يې څه.....زه چې ماښام کورته تلمه نومشرې راته يادونه وکړه چې صبا ته به نکټايي تړې ،بس دلته "زما يې څه"احساس رانه ولاړو، زما دنيکټايي نه بد راځي،خو هغه دچا خبره "حکم حاکم مرګ مفاجات" سحر چې دتک سپين کميس سره مې سره نيکټايي وتړله چې ميرمنې مې دکبار نه راته همدې بدې ورځې لپاره راوړې وه،دسحر نهه بجې روغتون ته ورسيدم نو په ټولو دروازو پوليس والا ولاړ وو، ګاډي تالاشي کيدل دډاکټرانو او نرسانو شناختي کارټونه بيا-بيا کتل کيده ،جامه تالاشي هم روانه وه دننه دوو کسانو دروغتون کارکونو ته ژېړ کاغذې سټيکرې په جامو لګولې چې له نورو وپيژندل شي، په خپلې څانګې کې مې وليدل چې ټول داسې جوړ او تيار راغلی وو ته به وايې چې واده دی، زمونږ مشرې دومره داوچتو پوندو بوټان په پښو کړې و چې په کې ګرځيدلې نه شوه مونږ ته يې وويل چې"عادي کار وکړئ دملکې لپاره دڅه خاص تردد ضرورت نشته" خو په خپله دهغې دتندې ګونجې ددريو پر ځای دولس شوې وې. پوره په لسو بجو دملکې موټر دروغتون په لويه دروازه رادننه شو،اولکه ځنګه چې يو ورځ وړاندې مونږ لېدلي وو د لسو دولسو سرو يوه ډله اخوا دېخوا ودرېده، شل تنه کيمرې سره دټيلي ويژن د فبلم جوړونکي هم تيار ولاړ وو، يو څو دننه په لږه فاصله ورو-ورو ورسره خوځيدل داسې لکه چې دمچانو يوه جوپه خوځيږي. په ټاکل شوی وخت ملکه زمونږ شعبې ته راغله،دټولو پيژندګلوي ورسره وشوه، ماته اشاره وشوه نو دايکسرې دماشين بټن ته مې زور ورکړو، يومريض مو دوړاندې نه تيار ودرولی و،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نږدې وه چې ملکه بلې کوټې ته بیول شوې وای چې په کمپیوټر دهغه مریض هډوکي ووینې خو ناڅاپه ملکه وړاندې شوه او له ما سره یې خبرې پیل کړې،په دې وخت کې دځو کیمرو رڼاګانې پر ما او پر هغې لګه د تالندې ګوزارونه وکړل، زما نه یادېږي چې ملکه څه پوښتنه کوله اوما ورته څه ځوابونه ورکول، دا هر څه یوه لحظه وو، بیا چې په ځان پوهیدم نوهر څه خلاص وو، ملکه بلې کوټې ته تللې وه او زه حیران په خپل ځای ولاړ وم. ملکې تقریبا په روغتون کې نیم ساعت تیر کړو،او دهغې موټر له لوی تور اوسپینزې دروازې ووتلو نو تردېره وخته خلکو په وړو-وړو ډلو کې له یو بل سره خبرې کولې، مونږ په خپله شعبه کې دهغو مریضانو داېکسرې په اخیستو کار پیل کړ چې راته په انتظار ناست و او تر مازدیګره اخته و. نن هم له سهاره مونږ په کاربوخت و،خو هغو خلکو چې په ورځپاڼوکې یې زما تصویر لیدلی وو راته به یې مبارکي وویله یابه راته موسکی شول چې مونږ دې پیژنو. زه نن هم دنور کله په شان دچایو لپاره ریسټورانټ ته ولاړم او چې په خپل ځای کښېناستم نو شاواوخوا مې وکتل هغه زړه کاترینا نه ښکارېده، زه لږ خفه غوندې شوم... چې هغې زما عکس لیدلی دی که نه ...کیدای شي لیدلی وي او بد وربراندې لګیدلی وي اوپه همدې خبره ځان راته نه ښکاره کوي، داخبره چې مې په زړه شوه نو خوشحاله شوم..."اخر مې دې بوډۍ ته ماتې ورکړه....اوس به راسره په سمه خوله خبره کوي... زما زړه ډاډه شو،ددې څو کلونو داعصابي فشار نتیجه زما په بریالیتوب راوتلې وه. دریسټورانټ په څو میزونوکې ورځپاڼې ایښې وي او زما دبري اعلان وو. ما چای خلاصې کړې او له ریسټوانټ نه چې ووتلمه نو کاترین مې ولېده دهغې په لاس کې دپیالو ډک یو پتنوس وو،زما زړه ودرزېدو ،فکر مې وکړو دا به په شرم سره خپله لاره ونیسي ... ښایي له ماسره هیڅ خبره ونکړي...ښایي له ما ښښنه وغواړي... ښایي...خو هغه په خپل ځای ودرېده، راته یې ډېر په عجیبه سترګو وکتل،داسې لکه چې پرما رحم کوي...داسې چې یو تربور بل ته دحج مبارکي وایي...دهغې لهجه داسې وه لکه دتیرې چړې یو خرپ... چې زما زړه کې یې ووهلو... راته یې وویل: "ښنګه ...زمونږ ملکه دې خوښه شوه" هغې د "زمونږ" ټکي ته دومره زور ورکړو چې تاو یې زما له غوږونو نه ووتلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يواځې شيبې

نرگس دتيرو څو ورځود باران له کبله په کور کې وه،هغې سره دخوږو تازه شيان په خلاصېدو وو،او نن خو ورکره مېلمه هم راتلو،نور کله به يې لونو ورته سودا راوړه، مشره لور خو به يې دهرې شنبې په ورځ داولادونو او خاوند سره راتله نورو خپل-خپل ورځ ټاکلې وه. د نرگس دکوندېتون کال پوره شوی و، تير کال هم په دې ورځو کې جانباز ناڅاپي مرگ ترې جدا کړو او ددوی ددېرشو کالو ديوځای ژوند مزی يې پرې کړې. نرگس په پردېس کې پنځه اولادونه لوی کړي وو،څلور لونه يې دخپل-خپل کور وې،يو زوی يې لره چې د واده نه وروسته ورسره څو مياشتې پاتې شو،خو بيا ترې بېل شو،په دې ملکونو کې يو کور ديوې کورنۍ لپاره بس گڼل کيږي دخاوند تر ژونده نرگس ډاډه وه چې خپل فرض يې پر ځای کړی و،جانباز به دشپې ټيکسي چلوله او دورځې چې به يې خوب پوره شو نو دنرگس دلاس رنگا رنگ خواږه به يې خوړل،خو اوس دا يواځې پاتې وه، هغې کوټ په غاړه کړو دکور کونجيانې او دماتو پيسو بټوه يې په جيب کې کيښوده او بهر راووتله،په کوڅه کې يوې وړې جينۍ خپل گلابيبايسيکل چلوو، لږ وراخوا دوو ښځو دخپل کور دروازې پرانيستې او په خبرو اخته وې، د نرگس په ليدو يې ورته لاس وروخوځاوو،هغې هم دسر په اشاره ورته ځواب ووايو. دوکانونه دکوڅې په سر کې په لوی سړک جوړ وو، نرگس ددې دوکانداران پيژندل،دځينو اولادونو ددې دبچو سره په ښوونځي کې سبق ويلی وو،اوس دوی هم ځوانان و،هغې ديوڅو دوکانونونه سودا وکړه ټولو ترې حال احوال وپوښتلو او د زړي زړه ډاډه شو، د تيرو څو ورځو د يواځې توب احساس يې ورک شوی و،هغې ټول عمر دخاوند او دالادونو په خدمت کې تير کړی و ،ژبه يې ماته کوډه زده کړې وه او نه دکور نه بهر ددنيا په معاملو پوهيده،اوس هم دې دهرې خبرې لپاره مشرې لور ته ټيلي فون کوو، بيا هغې ورته کارونه سمول، دجانباز دمړينې نه وروسته يوه-يوه لور به ورکره پاتې کيده زوی به يې هم ليدو،بيا ورو-ورو ددوی راتگ کم شو په ټيلي فون به خبرې کيدې، نرگس به دزوی نه مروره وه چې هغه يې پوښتنه نه کوي، خو شهباز دښار په بل سرکې اوسيده ،

(c) ketabton.com: The Digital Library
هغه په دوو ځایونو کې کار کاوو او نه یې غوښتل چې درخصتۍ په ورځ بیا په سړک روان وي، نرګس به ماښام مهال ډېره زورېده، جانباز به راډیو ډېره اورېده او کله چې نرګس به ډېره خفه شوه نو دراډیو اوټیلي وېژن غږونه به یې لوړکړل، بیا به یې په چیغو-چیغو وژړل، یوه ورځ مشرۍ لور ورته وویل:"مورې د ژبې یا دکومې بلې زده کړې لپاره په کورس کې ځان داخل کړه،خو نرګس ورته وویل: "اوس په دې سپین سر به زه څه زده کووم" بلې لور ورته دکار وویلو نو دا په فکرونو کې ډوبه شوه، دېرش کاله پخوا هغې یو دوکان کې څو میاشتې کارکړی و خو یوه ورځ چې یوې سپین پوستې وربانډې وتوکل دې جانباز ته کیسه وکړه اوهغه وربانډې کار بندکړو، نرګس پرې ډېره ګرانه وه او په دې خبره هغه سخت قهرېدلی وۀ، بلې لور ورته ویل چې دکور یوه کوټه دې په کرایه ورکړې چې یو څوک دې ورسره وي،خبره رښتیا هم وه دنرګس کور ډېر لوی و، څلور کوټې دخوب وي، یوه دناستې او بله دډوډۍ کوټه وه، بره او ښکته په کې غسل خاني جوړې وې، په دې هیوادکې ډېرو خلکو کوټې په کرایه ورکولې، خو نرګس به ویل کوټه هلک ته څنګه په کرایه ورکړم دی به وځي ننوځي لوښي به راته ناولي کوي، انجلۍ که وي هغه به ملګری لري څوک به یې منع کوي چې دشپې دې بهرنه ګرځي، دهغې کشره لور ډېره ژبه وره وه یوه ورځ چې مور ترې ګېله وکړه نو ورته په وینا شوه، "تا څنګه په دې وطن کې عمر تیرکړی دی نه دې ژبه زده کړه نه دې کوم کار وکړ، ان تر دې چې موټر قدرله هم نشې چلولی چې بهر وګرځې...ستا علاج دادی چې ته بیرته خپل کلي کې ژوند وکړې هلته دخدمت او دخبرو لپاره به ډېر خلک پیدا کړې" زرې په هغه شپه لور ته څه ونه ویل خو دشپې یې دومره وژړل چې بالښت یې لوند شو خدای ته یې هم دغه زارۍ کولې چې ما هم واخله. ورځې په میاشتو بدلې شوې او نرګس ورو-ورو دخپل یواځې ژوند سره عادت پیداکړو،کله -کله به دجانباز نږدې ملګرو ترېنه په ټیلیفون کې حال احوال اخیستو په دې کې اشرف هم شامل و،دجانباز په ژوندانه اشرف به ددوی کور ته ډېر راتلو،دهغه په کور کې څوک نه وو، ښځه یې پخوا مړه وه او دوو زامنو یې دپلار پوښتنه نه کوله ،جانباز به دهغه ډېر خیال ساتلو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرگس ته به یې ویل ده ته وطني شیان پخوه چې دیوائې توب احساس ونه کړي. هم دا وه چې کله به داشرف دراتلو ورځ وه نو نرگس به ورله کله سابه کله کباب کله دجوارو ډوډۍ کله پراټې او حلوه پخول. دجانباز دمړینې نه وروسته اشرف به یواځې هغه وخت ددې کور ته راتلو چې دنرگس په اولادونو کې به څوک ورکره راغلی و،خو نن اشرف راتلو او په کور کې نور هیڅوک نه وو،په دې ورځ به تل دهغې دربیمه لور سیلۍ راتله، خونن هغی سحر ورته په ټیلیفون کې ویلې و چې دا زکام شوې ده اوډاکټر ورته دارام کولو مشوره ورکړې ده، نرگس به داولادونو په تکلیف ډېره زهیره شوه، سیلۍ ته یې وویل چې ارام دې وکړي بیا دغرمې یې پام شو چې اشرف هم راتلو دا یو څه نا ارامه شوه،بل هیڅوک په کور کې نه وو،که څه هم اشرف ددې دکورنۍ دغړي په شان و،خو هغی ته یوه عجیبه احساس وشو،که څوک خبرشول دا دیو پردي سړي سره په کور کې یواځې وه نو بیا...یو وارې ټیلي فون ته ولاړه چې اشرف ته ووایي چې مه راځه، خو بیا ودرېده دماښام او دیوائیتوب داحساس سره هغه وېرېده، هغه دیوې اونۍ راهیسې په کور کې یواځې وه، درې ورځې کیدې چې هغې هېڅ نه وو پخ کړي، په یخچال کې یې دتیرو څوورځو پاتې ډوډۍ ګرموله او خوړله. اوس هغې کور پاک کړی و او چې سودا یې راوړه نو سمدلاسه یې پخلی پیل کړه،داشرف به سموسې خوښېدې هغې نن سموسې جوړې کړې، ورسره کوفتې وریژې بینډۍ هم وې، دپخلي پر وخت به نرگس ډېره خوشحاله وه په تیره بیا دمیلمنو لپاره چې به یې پخلي کاوو، په داسې وخت کې به جانبازهم د دی سره په پخلي کې لاس کوو ،ترکاري به یې ورته پاکوله او پرېکوله، دکبابو لپاره به یې ورته غوښه اخته کوله. دکله راهیسې چې ددوی ټول اولادونه له دوی څخه بیل شوي وو،نرگس او جانباز یو بل ته ډېر نږدې شوي وو،او هم په دې خبره به د هغی زړه ارې ارې شو چې هغې دجانباز سره دژوند ښې شیبې ډېرې ناوخته وموندلې،هغه دپخلي نه وزګاره شوه نو دمازدیګر لمونځ یې وکړو. اشرف چې ماښام راورسیدو نو نرگس ایله دخپلې مشرې لور سره په ټیلي فون خبرې خلاصې کړې وې،هغې ته ویلې و چې اشرف به راځي او دی به په کور کې یواځې وي،خو لور یې یواځې دومره ورته وویل چې کاکا ته مې سلام ووایه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنرگس زړه ډاډه شو،هغه کوم غلط کار نه کوي،نرگس يو څو شيبې داشرف سر کښيناسته، بيا يې دډوډۍ تابيا وکړه، اودواړو په ګډه وخوړه،دوی زيات وخت د نرگس داولادونو په هکله خبرې کولې، اشرف په خپل دوکان او په هغې کې کارکونکو څوتنو ځوانانو کيسې کولې او نرگس ډېره موده وروسته څوواري دهغه په خبرو وخندل، د هغې پام نه و،او چې اشرف خپل لاسي ګړۍ ته وکتل نو د نرگس سترګې هم ديوالي ساعت ته په ځيرشوې، د شپې ۱۱ بجې وې هغه حيرانه شوه نن څنګه دماښام هغه سپيره وخت په دې غم نه شو. اشرف په تلو کې ترېنه پوښتنه وکړه که څه کار يې بند وي نو دی به ورته وکړي،نرگس ترېنه مننه وکړه او دی ولاړو،له دې وروسته به اشرف کله-کله ماښام د دی کورته راتلو اوڅوساعته به يې ورسره خبرې وکړې،داشرف په وينا نرگس دکور سره نږدې دخشکه شوېئ په دوکان کې دوه ورځې کار پيل کړ،هغې پيسوته دومره اړتيا نلرله څومره چې ځان مصروفه کولو ته لېواله وه. دوه مياشتې همدغسې واوړېدې او يوه ورځ نرگس احساس وکړو چې هغې خپل زوی شهباز دډېرې مودې نه-نه دی ليدلی،که څه هم دې به ورسره په ټيليفون خبرې کولې،خودالومړی ځل وچې نرگس د شهباز دکمي احساس و نه کړو،اشرف تر ډېره حده ددې دکور درانه کارونه ورته کړي وو. په يوغسل خانه کې دنل اوبه څڅيدې هغه يې ورته په خپله جوړ کړی وو،دموټر دګراج مخې ته لويه ونه يې ورله پرې کړې وه،دجانباز دزوړ موټردخرڅولوتابيا يې ورله کړې وه، خو ددې ټولو نه علاوه نرگس داشرف سره دخپلو معمولي ستونزو په هکله غږېده، داسې خبرې چې اولادونو به يې ورپورې ملنډې وهلې،او دې به د وېرې ورسره نشوېئ کولې. هغې اوس په ځان يو څه اعتماد پيداکړی و داشرف په خبرو به يې زړه ته ډاډ ومونډلو اوځان به يې يواځې نه احساسوو. يوه شپه چې دهغې مشره لور ورکره راغله نو په مورکې يې يوه څه بدلون وليدو، نرگس به عموماً ساده خړې جامې اغوستې،د وېښتو کلکه کوڅۍ اوغټ څادر په سر...دجانباز دمړينې نه وروسته هغې رنګين لباس نه و اغوستی،خو نن د هغې اسماني رنګه وريښمېنې جامې په غاړه وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دڅادر په ځای دشیفون لوپټه یې په سر وه اوچې لور ته ورنږدې شوه نو دجامو نه یې دهغه مخصوص عطرو خوشبویي راپورته شو چې جانباز به ورله راوړو، نرگس دملسو په خبرو خندل او څو وارې یې لور هم په غیږه کې ونیوله. د مور دا بدلون دهغې دټولو اولادونولپاره حیرانونکی و، دوه لوڼې یې خوشحاله وې، نورو بیغوري څرگنده کړه، او په هغه ورځ چې شهباز له ډېرې مودې وروسته خپله مور ولیده نوتندی یې تریو ونیولو، هغه خبر و چې اشرف ددوی کور ته ډېر تللو راتلو ځکه نرگس به خپلو ټولواولادونو ته دهغه دراتگ خبره کوله.خو په خپل مور کې یې دا بدلون خوښ نشو، داخلک به څه وایي دهغه په زړه کې وگرځیده ،خو بیا دښځې په وړاندې یې مورته څه ونه ویل. شهباز چې دورځې دتیرېدو وروسته دکور په لور روان شو نو ښځې یې لومړۍ خبره همدا وکړه"مورنن ډېر فیشن کړی و"شهباز دقهر نه هیڅ ونه ویل خو بس خپلې شونډې یې وچیچلې او دموټر رفتار یې نورهم تیزکړو. هغه ماښام نرگس دټیلیفون غوږۍ نیولې وه او په بل سر کې یې دخپل زوی ویناگانې اورېدې"ته اوس مونږه شرموې،خپل عمر ته وگوره... دا زما خسرگنۍ به څه وایي دا خلک به څه وایي..."او بیا شهباز چې داشرف نوم واخیستو نو نرگس دسر نه تر پښو ولړزېده"مونږ خو داشرف کا کا ډېراحترام کاوو دی دومره پریوتی انسان دی..."نرگس هیڅ ونه ویل بس ورو غوندې یې غوږۍ بیرته کېښوده اومخامخ لگیدلې هندارې ته ځیر شوه. په بله ورځ دهغې لور سیلۍ ورکره راغله نو نرگس دکور دروازه ورته پرانیسته، دهغې ټول وجود په خړو جامو کې پټ و اوپه سر یې تور څادرکلک تاو کړی و، دهغې په شونډو یوه سترې موسکا راښکاره او بیا ورکه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیمګړې کیسه

په کوڅه کې دجوارو دنینو خرڅونکي غږ را پورته شو"پـولۍ واخلـئ پـولۍ... دکـور ماشومانو لویې دروازې ته منډې کړې،هغه هم له ځایه را پاڅیده ،دڅادر د پیڅکې پورې ترلې پیسې یې پرانیستې او دخپل دروند وجود سره دکـوڅې پـه لـورې روانـه شوه، لږه شیبه وړاندې هغې پتاسې خوړلې وې چې وربنداري یې دچا دکوژدنې نـه ورته راوړې وې،او دهغـې نـه هـم وړانـدې هغـې دوه ی خـوړلې وه ،دوه ی نـه وړاندې یې ګنده‌برې ژولې وی او دګنده‌برو ضرورت ورته ځکه پیدا شوی و چې ډېـره مالګینه غوښه یې خوړلې وه. دهغې په ژوند کې دوه کاره وو، یو ټوله ورځ خـواړه او بله په کټ به پریوته او سترګې چې به یې پټې کړې نـو ځـان بـه یـې دنـاوې پـه حیث لیدلو، دهغې په زړه کې بس یو ارمان و و،واده...واده او واده...

دپیغلتوب په درشل کې به یې شپه او ورځ دا خوبونه لیدل چې ډېر ژر به یې څوک وغواړي. هغه په دې غم کې نه وه چې سړی به څنګه وي کار به څـه کـوي ځـوان به وي که زوړ... بس هم په دې تصور دهغې وړه دنیا اباده وه،ځکه خو یـې سـبق هم پوره نه کړو ددې نه مشرې دوه خویندې چې واده شـوی،نو هـر چـا بـه ددې د راتلونکي پـه هکلـه خبرې کولې،بیـا دهغـې وروڼـو هـم ودونـه وکړل،پـه کـور کـې ماشومان وزېږېدل ددې مور پلار زاړه شول،مور یې دپخلن کار نـه شـو کـولی، ځکـه خو دې د اخلي پخلي کار پـه خپـل لاس کـې واخیسـتو او هـم ددې ورځـې نـه ددې ولوږه هم زیاته شوه، د دوه ی نه وروسته چې به دې دسترخوان راټولـوو نـو پـاتې شیان به یې هم خوړل بیا به هم دې ته خپله خیټه تشـه ښـکارېده،دکوڅې نـه یـو پلورونکي به نه شو تېرېدای دهغې دکور مخې تـه یـې دخـوراک دشـیانو دخرڅولـو لپاره ضرور ناره وهله،"وږې دي وږې ... دجوارو نینی ګنده‌برۍ...نان خطایي...کیـک یوه ورځ ورته وربنداري په ټوکو کې وویـل: "خېټـه ده کـه ژرنـده...هډو ودرېږې نه...خو دې به دهیڅا پروا نه کوله...بس خواړه وو چې ددې خیټې تـه ورلویـدل، ددې وزن اوس دومره زیات شوی و چې په ګرځیدوبه یې ساه ښکته پورته شوه، په پونړو به نه شوه ختلې، یو کار به یې وکړو نو بې حاله به ناسـته وه، پـه دې ځوانـه ځوانۍ کې خلکو ورباندې رنګارنګ نومونه ایښي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library
ډومبکۍ،مېښه....پنډه شابېو....چاټۍ.... دهغې مور ټولو خپلو خپلوانو ته ویلي و چې که ځوک زما لور وکړي نو زه به ورته خپلې ټولي ګاڼي ورکومه،خو هلکانو به غوږونه ونیول چې دې غواګۍ سر به ځوک ژوند تیروي.
ښه نو ولوستونکیه.....تر دې خو ما کیسه وکړه پاتې کیسه ته راته پوره کړه...څه؟...ته وایي چې کیسه لیکل ستا کار دی...تراوسه ددې جینۍ نوم هم راته څرګند نه شو،ولې دې داسې کیسه پیل کړه چې پای له ما غواړي ښه سمه ده...ما ځینو خلکو ته دا کیسه هم تردې ولوستله او ددوی نه مې پوښتنه وکړه چې نور نو ددې جینۍ سره څه وکړم.
یوه ډله خلکو راته وویل چې که داجینۍ ښه اخلاق لري... کورنۍ یې ښه ده نو ددې غټ وجود دومره عیب نه دی... یو رژیم (دخوړو پلان)دې ورته ځوک ونیسي... سمه به شي او په کار ده چې یو ځوک یې وکړي.
خو ما دداسې کسانو نه پوښتنه وکړه چې که ستا ورو،زوی ،ماما یا نوردې خپلوانو کې یو ناواده سړی وي نو ایا دوی به دا جینۍ وغواړي؟
یوې بلې ډلې راته وویل چې دا جینۍ بې له واده هم ښه ژوند کولی شي،دې له په کار دی چې پاتې عمر دې دمور پلار په خدمت کې تېر کړي،کله چې دوی نه وي...دا به دکور مشره وي....ټول ورونه خویندې به ورباندې راټول وي،عزت او ناموس به یې ساتلی وي، عبادت دې وکړي ددنیا کارونو نه دې لاس واخلي او خپل اخرت دې ښه کړي.
خو زما پوښتنه دا ده چې ځوک به دخپل خور،لور وربېرې، خورزې یا لمسۍ ته داسې راتلونکی وغواړي، ښه نو ولوستونکیه... څه چرت وهې افرین شه چې تراوسه دا کیسه لولې،زه درته اوس خبرداري درکومه چې وړاندې دا کیسه مه لوله ځکه ددې پای نشته...ښه ده نو چې ته زما خبره نه منې نو زه به دا کیسه همدغسې پریږدم نیمګړې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلار،موراو لور

پښتنه له اسمانه ځمکې ته را وغورځېده،په وجود کې یې ساه نه وه،خو په مندې وه،ماشومه لور یې په غېږه کې نیولې وه او نه پوهېده چې په خوشې سړک کوم خواته ورتله،دیوموټر تېز هارن هغه بېرته خپلو حواسو ته ورټیله کړه،دموټر ډریور هغې ته بد-بد کتل او دهغې ماشومې لورته یې اشاره کوله، لکه چې یې ویل"په خپله خو مرې ... دا ماشومه ولې له ځانه سره وژنې.

" پښتنی ډېر مزل وکړوخو دستړیااحساس یې نه کاوو،که یوې تیرې دهغې پښه نه وی نیولې نو ښایي همدغسې به روانه وی ،دا هم هلته دسړک په غاړه په لویه تیره کښیناسته، ماشومې تمنا ته یې وکتل هغه حیرانه وه چې په مور مې څه شوي دي، خپل ورکوټی لاس یې ددې پر مخ کیښودو نو پښتنی ولیدل چې دهغې مخ په اوښکو لوند وو، دپوزې نه یې هم اوبه راوانې وې، د دی په اوږه دځرمنې تور بکس ځوړند و،د هغې نه یې رومال را وویستو سترګې او پوزه یې پرې پاک کړل.

څو شیبې وړاندې هغه په خومره هیلو دپلار کورته ورغلې وه،یو کلنې تمنا ته یې په ټوله لار غوږکې خبرې کولې،چې بابا ووینې نو په تندي لاس به پړدې او سلام به ورته  وکړی، تمنا به کټ-کټ وخندل.  د پښتنې مور د ساه لنډی مرض لاره او پرون یې روغتون ته رسولې وه،خو هغې اجازه نه لرله چې دمور پوښتنې ته ورشي،د هغې پلار لس کاله پخوا ورسره هره اړیکه شلولې وه،هغې څو واړې جرګې مرکې وکړې خو ده دهیچا نه منله، دپښتنې ګناه ډېره لویه وه،هغې په خپله خوښه د وارث سره واده کړی و، هغه وارث چې د دوی د قام نه و، ددوی ژبه یې هم نه ویله او دخان زوی هم نه وو، پښتنه پوهېده چې په دې کار به یې پلار په قهر وي،د دي په واده کې هغه شریک نه شو، دا دخپل ماما له کوره واده شوې وه،خو هغې لیدلي و چې ددی نه وړاندې وروسته ځینو نورو جینکو په خپله خوښه دژوند ملګري غوره کړي وو، دیو څو میندو پلرونه څه موده خفه و،خو بیا یې هر څه منلي وو،داولاد مینه دهر غرور سر ټیټ کړي،پښتنې همداسې ګڼله، داسې نه وه چې وارث دهغې دپلار نه و خوښ، په سر کې یې ورسره ډېر په عزت او درناوی چلن وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو وروسته خبره ورانه شوه دپښتني تره خپل ورور ته غټ پيغور ورکړی و"د بې غيرت" او د "بې ناموس" خطاب يې ورله ورکړی و، د پښتنې دپلار لپاره دا پيغور دټوپک له ډز او دتورې له ګوزاره سخت وو.

پښتنې وړه ټمنا له غيرې ښکته کړه،هغه اوس اودرېدی شوه او دمور دګونډې سره يې ډډه ولګوله،پښتنې ځادر سم کړو دبکس نه يې يو بسکټ رااوويستلواودټمنا په لاس کې يې ورکړو، نور کله به دې ماشومې چيغې وهلې،لاس پښې به يې غورځول، خو نن په حيرانونکې توګه غلې وه ،لور دمور غم احساس کړی و، پښتنې لارې ته کتل، سرک خوشی و، هغه په ټيکسي کې دپلار کور ته ورغلې وه، لس کاله پخوا هم دغسې يوه ورځ وه چې هغه دماما سره په يوې بلې ټيکسۍ کې له کوره ووتله، نه يې ورور لاس ونيولو، نه يې پلار په سرلاس کيښودو نه مور دهغې په سر قران شريف ونيولو نه يې پرې پټاسې وشيندلې.

هغه په تيرو لسو کالو کې بيا خپل کور ته نه وه تللې، پلار يې ويلي و چې که بيرته راغلې نو وژنم دې. وروڼو به يې حال پوښتلو او کله- کله به يې د هغې دپلار نه په پټه مور هم ورکره راتله. دروغې لپاره ډېرې هڅې وشوې،دوارث دپوهنتون يو استاد چې دپښتنې دپلار ملګری وو،په ننواتې ولاړو دهغې ماماګانو، ترورپانو،ورته په وار وار مينت زارۍ وکړې،په اختر اوبرات کې به نورو خپلوانو ورتـه يادول چې پښتنه په خپل کور کې خوشحاله اباده او ددريـو اولادونـو مـور ده،خـو دا وړۍ نـه شړۍ کيده.

نن هغې يو وارې خپل ځان راټول کړو،دمور د ليدو په هيله پلار ته پخپلـه ننواتې ولاړه ،خو پلار يې ددې دليدو سره په ښکنځلو سر شوهغې لا خپل بوټان له پښو نه وويستی او د وړې ټمنا لاس هم ها غسې په تندي پاتې شو، د هغې پلار خپلې ځپلـۍ تـه لاس کـړو، د پښـتنې خـور ژر د خپـل پـلار لاس ونيولـو،هغې تـه يـې وويل:"ببۍ ولاړه شه...بابا دې ونه وهي دا دشرم خبره ده" پښتنه يـو څـه وارخطا شوه خو بيا يې ځان کلک کړو او پلار ته يې وويل:"بابا جانه بـس کـړه...ومـې بښـه ... ما ډېره لويه ګناه کړې،خو خدای پاک هم بښونکی دی،زارۍ درته کوم...بس دی دمور لپاره... دخدای لپاره... "

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دهغې دا ټولې خبرې دهغې پلار نه اورېدې،هغه په لوی غږ دې ته ښکنځلې کولې،دهغه سترګې سرې او لاسونه یې له قهره رپیدل"بښل مښل نشته...
"جرآت دې څنګه وکړو چې بیا دې کور ته راغلې درته مې ویلې نه و چې وژنم دې" ددې خبرې سره سم هغه په دیوال ځوړند د ټمانچې پټۍ ته لاس کړو، د پښتنې خویندې په چیغوشوې "ولاړه شه خورې... " او دواړو د پلار له لاسه ټمانچې واخیسته، هغې غوښتل چې ځان کلک کړې خو د پلار څپېړو راوغورځوله، وړه ټمنا په چیغو وه، پښتنې خپل ځان په هغې واچوو او د دروازې لورې ته یې منډه کړه، نا ببره هغه د لور نه مورشوه، د ټمنا دویرې ډک غږ دې ته اړکړه چې له هغه ځایه ځان وبا سي، هغې لکه د چرګې ټمنا دخپلو وزرو لاندې پټوله،دکور ددوازې نه په وتلو کې یې یو وارې شاته وکتل، دپلار څیره ورته داسې ایسېده لکه چې ددې قاتل وي، بیا په یوه منډه له کوځې لوی سړک ته را اوتله،د سر څادر یې په اوږو پروت وو او داسر توره په لاره روانه وه،اوس چې دهغې ځانته پام شو نو یو وارې بیا په ژړا شوه، دا څنګه پلار وو،پلرونه خو دخپلو لوڼو سر په لوپټه پټوي،په بدرګه یې له کوره رخصتوي دخواړو پتنوس ورسره وي. هغه دپلار کور ته په ټیکسۍ کې ورغلې وه،دښار دې برخې ته ډېر لږ بسونه راتلل،دهغې هېڅ امید نه و چې ببرته تللو لپاره به ورته څه پیدا شي،خو قسمت یې ښه و،یوه لارۍ ورته ودرېده،هغه په سیټ کښېناسته خو بیا یې هم ژړل،ورسره ناستې یوې ښځې ورنه وپوښتل" څه شوي دي ؟ " پښتنې په ژړا وویل: " پلار مې مړ شو"

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دشيشي ګيلاس

بصرۍ په تناره کې ډوډۍ لګولې،دمازديګر لمونځ شوی و،او هغه خبره وه چې عالم خان به دکلي دجومات نه را وتلی وي ،خو دا معلومه نه وه چې هغه به څه وختې کور ته راتلو،کله-کله به يې دملګرو سره دلارې پر سر بنډار کاوو اوناوخته به کور ته را رسيدو.بصرۍ به دمازديګراودماښام ترمنځ داسې وه لکه چې په دار ځړېدله ما شومانو ته يې ويل "شور مه کوئ اوس به مو دادا راشي" هغوی ته به يې د وخته ډوډۍ ورکړې وه،ځکه د عالم خان کور ته راتګ دزلزلې نه کم نه و،تندی به يې تريو نيولی و دکور دروازې ته به يې لته ورکړه بس ته به وايې بهر چا سره يې جنګ کړی دی.

دبصرۍ خوابښې دخپل مشر زوی سره يو ځای اوسيده او کور يې دعالم خان کور سره ديوال په ديوال و دعالم خان مشره وربنداره شاخوبانه نومېده او په دې وخت کې به هغې هم په تناره کې ډوډۍ لګولې،هغه څه چې دکلي په هر کور کې به دډوډيو خوشبويي خپور وو.

نن بصرۍ دعاګانې کولې چې عالم خان دې ډېر وخت بهرپاتې شي،دهغې کټوۍ لا تراوسه نه وه پخه غوښه په کټوۍ کې خوټکيده، خو لا کلکه وه "خداې خبر چې قصاب دخه شي غوښه راکړې ده چې نه خوړينيږي"بصرۍ به هر وارې دکټوۍ سر لرې کړو او دا جمله به يې له خولې را او ووتله، په دې کې نا ځاپه ټول ماشومان په منډه شول او بصرۍ پوهه شوه عالم خان کور ته رانږدی وۀ،دهغه په راتګ به ټول ماشومان ورک شول، څوک به دکټ دلاندې او څوک به ددروازې شاته پټېدل،لوی هلکان به کله په ونه وختل او کله په کوټه، بيا چې عالم خان به ډوډۍ وخوړه او ټول به دهغه په تندي پوه شول نودخپلو خپلو سوړو اوپټو ځايونو نه به يو- يو راښکاره شو. بصرۍ له کټوۍ سر ليرې کړو او غوښه يې په ګوته کې ونيوله، تراوسه خوړينه نه وه خوهغې ژر دسترخوان واچو، هر څه يې دعالم خان مخې ته کيښودل، هغه مخ او لاسونه وينځلې و اواوس ډوډۍ ته ناست و، دغوښې ټوټه يې چې خولې ته کړه نو په ښکنځلو شوبصرۍ ورته په ورو غږ وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"قصاب نن سمه غوښه نه وه راکړې"عالم خان را پاڅیدو، هغه یې له کمڅۍ ونیوله، بیا یې ورلهدیوال سره یو ډغره ورکړه، بصرۍ چې ترڅو ځان ټینګاووعالم خان ورله څپلۍ را خلاصه کړه دبصرۍ له خولې نه تشه سلګۍ را ووتله او چې عالم خان ورله سوک ورکړو نو دبصرۍ په سترګو توره تیاره شوه.

عالم خان په بدو ردو له کوره ووتلو د بصرۍ له سر او پوزې نه وینې روانې وې،او دمور دوینو په لیدو دهغې لونې په ژړا شوې.

دعالم خان غږ د هغه مورهم اوریدلی واولړه شپبه وروسته شاخوباني دهغې دروازې نه سر را ددننه کړوچې ددواړو کورونو تر منځ په دیوال کې جوړه شوې وه او ماشومان به پرې پورې راپورې وتل.شاخوباني ماشومان په قلاره کړل او په اوبو یې دبصرۍ پرهرونه وینځل، بیا یې کورکمن او دشړشموتیل یوځای کړل او بصرۍ ته یې په سر پټۍ وتړله.

دهغې مشرې لور ورته دپلار دقهر او د غوښې دکلکوالې کیسه وکړه، شاخوباني دشونډو لاندې یوڅو شپړې عالم خان ته وکړې،زړه یې کیدو چې دبصرۍ سره کښینې خو د دیوال بلې غاړې نه یې دخواښې غږ واوریدو چې"څه شوی دي" ته هم ورسره کښیناستې هغه زما زوی ډوډۍ خوړلې ده که نه؟" شا خوباني بیرته خواښې ته ولاړه او هغې ته یې په لنډو ټوله کیسه تیره کړه،او لکه چې دبصرۍ ټمه وه دخواښې لوړ غږیې بیا واوریدو"سړې خو همدغسې وي نو....دا خبره نه وه چې غوښه په څومره وخت کې خوړینبږي، داسې پواړې ښځې د وهلو دي".په بله ورځ بصرۍ سر او نیم مخ په څادر پټ کړي و او دکور کارونه یې داسې کول لکه چې هیڅ نه وو شوي، عالم خان دخپل مور سره ډوډۍ خوړلې وه،اوسحر لکه دنورو ورځو په شان له کوره وتلی و.

دبصرۍ دوی کور دکلي دچم نه لږ لیرې جوړ و نو ځکه ددوی دکور دغوبل به څوک نه خبریدل، خو بیا هم دکلي په ژوند کې دښځو وهل ټکول عامه خبره وه ،دبصرۍ لپاره ګران کار دا و چې که کومې ښځې ترې پوښتنه وکړه چې سر یې ولې تړلی دی نو یوه نوې بهانه به ورته جوړهکړي،ځکه خواښې ورته ویلي و چې پام کوه دکور خبرې نورو ته ونه کړې،د پښې خوئیدل د بام (چت) نه راپرېوتل-

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دروازې سره جنګیدل، د وړو غونډوسکی په سر لګیدل، د دیوال ته را پرېوتل، دا هر څه دبصرۍ په زړه و، دمور له کوره به هم که چا وربانـدې پېښـه وکـړه نـو بصرۍ به ورته دروغ ویل. هغه به دجمعې ورځ ته ډېره نـه خوشـحالیده،عالم خـان به ټوله ورځ په کور و او کله دا،او کلـه ماشـومان بـه یـې رټـل، پـه دې جمعـه خـو دهغې لیور دخپل ټبر سره دمور تپوس ته را روان وو.

فرید خان په ښار کې اوسیدو اوهم هلته یې یوه ښاری ښځه کړې وه، صابره دهغه دښځې نوم و اوډېر اوچت تعلیم یې هم کړی و، بصرۍ به دشاخوباني نه دومره نه شرمیده لکه چې دصابرې نه، هغـې بـه ډېـرې پوښـتنې کـولې او دبصـرۍ سره بـه د هغې د پوښتنو ځواب نه و،د هغې جامې کالي هم ډېر فیشني واوخبرې به یې هـم بل شان کولې.

په داسې جمعه به بصرۍ دشا خوبانې سره ډېره مرسته کوله،ددریو واړو وروڼو ټبر به یو ځای ډوډۍ خوړله، دېرش دوه دېـرش کسـان بـه پـه دسـترخوان کښیناسـتل،د ډوډۍ خوړو نه وروسته بصرۍ او شاخوباني لوښې وینځل او صـابره دخواښـې سره ناسته وه. د لوښو وینځلو نه وروسته  بصرۍ غوښـتل چـې ورو غونـدې ځـان خپـل کور کې ورک کړي،خو کله چې دا دخپل کـور پـه لـورې روانـه شـوه نـو صـابره هـم ورپسې را پاڅېده،دبصرۍ خواښې اوس دخپلو زامنو سره په خبرو بوخته وه.

کله چې بصرۍ دصابرې په کوټه کې یواځې کښېناسته نو هغـې اوس هـم سر اومـخ په څادر پټ کړی وو،صابرې ورته وویل:  "ځـه بـس دی اوس خـو سـړي نشـته مـخ اوسر لوڅ کړه"بصرۍ هم له دې خبرې وېرېـده،خو اوس بلـه لاره ورسره نـه و،دمـخ نه یې پلو لرې کړو خو تندی یې هماغسې پټ و،صابره ورتـه یـوه شـېبه ځـیر شـوه اوبیا یې وویل:"دا په پوزه دې څـه چـل شـوی دی؟"بصرې وویـل: "هـیڅ"  صابرې دهغـې دتنـدې نـه دڅـادر پلـو اوچـت کـړو او دهغـې پرهـر یـې وکتلـو، بیـا یـې وویل:"عالم خان لکه چې بیا دربانډې لاس اوچت کړی دی"بصرۍ لـه شرمـه سـترګې ټیټې کړې،هغې غوښـتل چېغمکـه وشلېږي او دا پـه کـې ورکـه شي،هـیڅ یـې ونـه ویل،صابره یوه شیبه غلې وه،بیا یې وویل:"ستا دا خاموشي او صبر ددې باعـث دی چې سړی دې وهي..... یوه ورځ به دې مړه کړي"

(c) ketabton.com: The Digital Library
دبصرۍ سترګې له اوښکو ډکې شوی" څه وکړمه......عالم خان په وړو خبرو په قهر شي.... زيات وخت زه ملامته يمه......"همدغه خو غضب دی کنه....."صابرې دهغې له خولې خبره ونيوله......ښځه که ملامته وي او کنه...... وهل يې ناروا دی،ولې عالم خان چېرې هم غلطي نه کوي...ده چې تېر کال دفريد خان موټر له زاړه کمره سره جنګولی و نو چا وهلی و؟" د صابرې دسترګو نه دوه اوښکې نږدې دهغې اننګو ته کډه کوله چې هغې ژر ددواړو لاسونه په ګوتو راټينک کړل اوسترګې يې ومښلې"دا به زما په قسمت کې ليکلې وې... که نه نور ورونه خو يې ډېر ښه دی"صابرې بې واره وويل:

"داځکه چې نور يې ستا په شان ښځې نه لري"دبصرۍ غرور نور هم خاورې شو،صابرې په خپلې خبرې يو څه پښيمانه ښکارېده.... ژر يې بصرۍ نه بښنه وغوښته او بيا پاڅيده بهر دماشومانو چيغې او شور ځوږ ددې الامه وه چې فريد ښار ته دتللو لپاره به کوڅې ته راوتلی وي،بصرۍ هغې ته م֊نت وکړو چې خواښې يا فريد ته دې څه ونه وايي ځکه چې عالم خان خبرېږی نو لا په قهر شي،صابرې ورسره لوظ وکړو خو بيا يې ورته نصيحتونه وکړل، چې دعالم خان لاس دې وونيسی ،که هغه ورته څپېړه ورکوي نو بصرۍ خو دې هم يو شی ورباندې وغورځوی، بصرۍ پېکه خندا وکړه او ويې ويل:

"ښځه کله سړی وهلی شي" صابرې ددوازې په درشل کې ودرېده او په غلي غږ يې هغې ته وويل:"فريد خان زما سره په زوره خبرې نه شي کولې، يوځل مې داوبو په ګيلاس ويشتی واو ورته مې ويلي و چې که بل ځل يې راباندې لاس اوچت کړو نو زه به کوڅې ته ووځمه، ښه ده چې کورمالت مې ننداره وکړي،بس هغه ورځ وه او نن ورځ زما نږدې چې د دشيشې ګيلاس ووينی رانه يې ليرې کړي، په دې خبره بصرۍ ته هم خندا ورغله،دواړه په خندا دخواښې کورته رواني شوی،په هغه شپه بصرۍ دخوب نه وړاندې تر ډېره وخته ځان سره چرت وهلو، په غوږ کې يې دصابرې خبرو انګازې کولې.

ښوورځې واوړېدې دبصرۍ خواښې دعلاج په پلمه ښوورځو لپاره ښار ته دفريد خان کورته ولاړه، بصرۍ او شاخوباني به دډوډۍ پر وخت په ازاده خبرې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددوی دخبرو موضوع به ډېری دصابرې خبرې وي،دواړو ارمان کاوو چې دتعلیم له برکته دصابرې ژوند ددوئ نه بهتره و، بیا به یې دهغې دشیشې ګیلاس خبره رایاده کړه او وبه یې خاندل، بصرۍ یو سوړ اسویلی وکړو او ویې ویل:"زه په تاسو ټولو کې بدبخته یم چې د سرې نه راته بلا جوړهشوې ده" شاخوبانې ورته وویل:"یواځې ستا لپاره .....کتل دې نه چې تیره ورځ یې د صابرې سره په څومره ورین تندې خبرې کولې" بصرۍ شېبه غلې وه،دا خبره رښتیا وه چې عالم خان دکور نه بهر یو بل مخ لاره خوش خلقه با اخلاقه ....خپلې مور سره به یې دټولې دنیا ټوکې کولې د بصرۍ د مور پلار او د وروڼو خویندو به یې ډېر عزت کاو....شاخوبانې ته یې وویل:"ډېر مې ارمان شي چې عالم خان دې راسره په نرمه ژبه خبرې وکړي،که نور نه چې وهل ونکړي،خو نه پوهېږم چې څه وکړم که چیرته نه دصبر تاویز پیدا کیدو نو عالم خان ته به مې راوړی وای" شاخوبانې ژر دهغې په خوله لاس کیښودو"پام کوه چې دتاویز خبره ونکړې....دبصرۍ مشر لیوراسلامي دې او دتاویزونو، زیارتونو ته تګ ددوی په کور کې رواجنه لاره. دبصرۍ خواښې په ښار کې ناروغه شوې وه او عالم خان دمور پوښتنې ته تللی و،دشپې ناوخته چې کور ته را ورسېدو نو بصرۍ ورته په انتظار ناسته وه ددوی کلی دښارنه دوه درې ساعتهدموټر لاره لرله اوس سړک هم پوخ شوی وو او دښار نه ډېرې لارۍ اوموټرې تر ناوخته کلي ته راتلل. بصرۍ نه وه خبره چې عالم خان به ډوډۍ خوړلې وي که نه خوبیا هم هر شی یې ورته ژر-ژر پهدسترخوان کېښودو،اوس خویې د ډوډۍ توده ساتلو لپاره دښار نه دپلاسټیکو یو ترموز ډوله ډبه راغوښتې وه چې تر دوو دریو ساعتو به په کې هر څه تاوده وو. نن دهغې زړه ارامه و چې عالم خان به ورته څه نه وایي،خو عالم خان لومړی دسترخوان او بیا بصرۍ ته وکتل او ویې ویل:"ډیره بې عقله ښځه یې کنه" د بصرۍ زړه یو درز وکړعالم خان دڅپلو سره په کټ غزیدلی و. بصرۍ ورنږدې شوه او په وېره یې ترې وپوښتل" خیر خو دی.... مور ښنګه وه....عالم خان ورته په ځیر وکتل" مور مې ښه ده زما سر مه خوره" بصرۍ په ځان کې یوه څه نور جرات پیداکړو او ویې ویل" ښه نو ولې په قهر یې ډوډۍ تیاره او ګرمه ده"

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالم خان راپاڅېدو دماشومانو کټونو ته یې وکتل....ټول ویده و...دی له کوټې ووتلو نو بصرۍ حیرانه پاتې شوه څه وکړي نور کله چې به عالم خان ډوډۍ نه خوړهنو دې ته به یې وویل چې نه یې خورمه خو نن یې عجیبه چلن کاوو.هغه عالم خان پسې بهر را ووتله دغولې په بل سر کې یوه وړهکوټه جوړهوه چې ماشومانو به په کې خپل کتابونه او دښوونځي شیان ایښودل،یو ګوټ کې کټ هم واو چې کله به عالم خان دبصرۍ سره ډېرې ناندرۍ ووهلې نو هلته به ویده شو.

عالم خان دکوټې دروازه خلاصه کړه او دننه ولاړو،بصرۍ پوهه شوه چې دې به هم هلته شپه تېروي،نږدې وه چې عالم خان ددې کوټې دروازه دننه بنده کړې وای چې بصرۍ ځان په زوره کوټه کې دننه کړو او دروازه یې وتړله،عالم خان یو څه حیرانه شو، خو بیا یې خپلې ځپلۍ ویستلی او په کټ وغزېدو، بصرۍ ورته وویل:"طبیعت خو دې سم دی کنه....ډوډۍ دې ونه خوړه؟" "څه ډوډۍ -ډوډۍ لګیا یې" عالم خان په لوړ غږ وویل:"نه یې خورم .... نه یې خورم، کوم پلاوونه کبابونه دې راته پخ کړي دي چې ته به پرې ستړې شوې یې."

دبصرۍ دغوږونو نه یوه لمبه ووتله،هغې هم په لوړ غږ عالم خان ته وویل:"خوله دې ماتېده چې دا خبره دې څو شپې وړاندې راته کړې وای.عالم خان دډېرې حیرانتیا نه په خپل ځای اوچت کښېناستو،دا بصرۍ خو بل شان وه،دې بصرۍ خو قهر هم کولی شو،غږ یې ښځګه لوړ کړو،دعالم خان ګوتو کې خارښت پیداشو، هغه خپلې ځپلۍ ته لاس کړو خو یودرز وشو اودهغه په سر یو درووند شی ولګیدو، عالم خان لا ځان پوهولو چې دا به څه شی وي،چې بل درز وشو او یوبل شی دهغه په پوزه ولګېدو،دکوم ماشوم دواړه بوټان دهغه په غېږ کې پراته وو،او ده سر په دواړو لاسونو کې نیولی و،په سترګو یې تیاره وه او لږه شیبه وروسته چې ده سر راپورته کړو نو بصرۍ یې ولیده چې په لاس کې یې دشیشې ګیلاس نیولی و، دعالم خان په خوله یوه غټه ښکنځله راغله خو په "وی" بدله شوه ځکه دشیشې ګیلاس دده په لوري راوالوتواو عالم خان چې دخپل مخ دحفاظت لپارهلاسونه مخ ته نیولي وو دده لاس یې ټپي کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالم خان ته په خپل ټول وجود کې د درد څرېکې احساس شـوی، دهغـه لـه خولې اوس ځړېروي را وتل، دبصرۍ دخولې څه خبره نه را وتله، بس هغه سخت پـه قهـر وه او که چا ورته ټوپک په لاس کې ورکړی وای نو هم پـه دې شـېبه يـې عـالم خـان وژلو، خو دهغه دتندي او پوزې نه وينې روانې وې.

بصرۍ له کوټې را ووتله او يوه اوږده ساه يې راښکله پـه هغـه شـپه عـالم خـان پـه پخلنځي کې کورکمان او تيل لټول،او بصرۍ په ارامه ويده وه.

په بل سحر چې ماشومان ښونځيو ته تلل نوپلار يې ولېدو چې په سر يې پټۍ تړلـې وه، دهغه پوزه هم پړسېدلې وه او لاس يې په شړۍ کې تاو کړی و، عالم خـان چـې له کوره راوتلو نو چرت يـې وهلـو چـې خلکـو تـه بـه څـه وايـي..... "زه دچـت نـه راپرېوتم ...نه-نه په ختو کې ولوېدم... " ده ته په لـومړي ځـل احسـاس وشـو چـې بصرۍ به څنګه خلکو ته بانې جوړې کړې وي دوجود پرهرونه خو جوړ شي دانسان خپل غرور چې ختمېږي څومره لوی عذاب دی.

په پټيو کې يو کرونـدګر تـرې پوښـتنه وکـړه"خـير خـو دی چـا سره دې جګـړه کـړې ده؟"عالم خان ورته په يوه پيکه خندا وويل:

"نه ياره بيګا دموټر نه کوزېدمه... دروازه مې په مخ ولګيده...پوزه مې وينـې شـوه خو... خدای فضل وکړو".

اخوا بصرۍ شاخوبانې ته دشپې کيسه کوله او بيا يې ورته وويل:

"که ښار نه دې لوښي راغونښتل ماتـه دناشـکن (نـه ماتيـدونکي) ګيلاسـونو يوسـيټ راوغواړه هم هاغه چې نه ماتيږي"

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سنیما

نازنین خپله طلای رنګه بټوه په میز کیښووده او د اوچتو پونډو د نازکو پیزارو سره په کټ پریوته هما په یوه کرسۍ ځان وغورځاوو. په لاس کې نیولی د مریو ګلابي سینډلو تنې یي پرانستلی.
پروین لاتروسه د سر نه خپل ګلدار څادر هم نه وو لرې کړی او د کوټې سره جوخت غسل خانی ته یي منډه کړی وه.
دا دري واړه هم اوس د خپلی نږدی او پخواني ملګری زیبا د واده نه راګرځیدلی وی او د ډاکټرانو د لیلۍ په یوه کوټه کې وی. دا کوټه د پروین وه هغه د ښار په لوی روغتون کې د ډاکټرۍ ورستی کال (سیتاج) پوره کاوو چې ورپسی- به یي سبق خلاصیده. نازنین او هما د زیبا په واده کې د ګډون لپاره د پروین په کوټه کې ایساری وی. دا پلان دوی هغه وخت جوړ کړی وۀ چې د زیبا د واده کارډ ورته رسیدلې وۀ. پروین چې د غسل خانی نه راوتله نو یوه شیبه یي نازنین او هما ته وکتل. دواړو سترګی پټی کړی وی او په کوټه کې خاموشی وه. پروین د یوی کرسۍ نه ګدۍ راوخیسته او نازنین یي پری وویشته.
تاسو دواړه دلته د خوب لپاره راغلی یي؟ د نازنین او هما له خولی ګډ اوازونه راوتل {{ستړی یمه دمه کوومه}} او دری واړو کړس کړس وخندل. پروین خپل پړونی د سر نه لری کړو او په کرسۍ یي واچوو نابېره په کوټه کې رنګونه وځلېدل. د هغی په کمیس لګیدلی ستاری مخامخ د لوی هنداری د رڼا سره یو ځای شوی او په ټولی کوټې کې یي پړک وپړوک جوړ کړو. نازنین ته موقع په لاس ورغله، " ته دی ته ګوره اوس مونږ په رڼا وژنی..." د دری واړو جینکو خندا په کوټه کې تودوالی پیدا کړو.
پروین د یخچال (فریج) نه د یخو اوبو بوتل راویستو او په ګیلاسونو کې یي اوبه واړولی. ژمی تیر وۀ او نن ماښام د هوا سوړوالی هم مات شوی وۀ.
دریو ملګرو د واده ښایسته جامی له ځانونو نه وویستلی، مخونه یي د سرخی پوډرو نه پاک کړلاو په کټ یو ځای کیناستی.
نن شپه ددوی د خبرو موضوع یواځې زیبا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library
هما د طب په کالج کې خپله لومړۍ ورځ په زړه شوه زيبا هم پدې پوهنتون کې د دويم کال محصله وه د پوهنتون دود داسې وۀ چې د دويم کال جينکو به په نوو راغلو محصلينو اوبه شيندلچې دوی په عذاب شی. تر يوی اوونۍ به جينکو همدغسې شوخی کوله. په هما اوبه وشيندل شوی، زيبا دا حمله وربانـدی دومره ناځاپې کړی وه چې هغه وارخطا ډډی ته شوه..... پښه يي وخويده او په ازغن تار پريوته. ټولو جينکو چغې کړی . زيبا په لاس کې نيولی د سلورو جگ ورغوځار کړو او په منډه د هما مرستی ته راغله. دا يي را وچته کړه او په غيږ کې يي ونيوله. د هما لوپټه په ازغن تار کې ونښته او تر څو چې دوی راخلاصوله ريتـايږی تری بيلی شوی. د هما په ليچو ازغن تـار خراشـونه جـوړ کـړی وو. نـوری جينکـۍ لـه ويـری وتښتيدی. د زيبا په غټو غټو سترگو کـې اوښـکی وی. او پـه يـوه سـاه يـي لـه هـما بښنی غوښتلی. بيا يـي دا کـوټی تـه بوتلـه. دوو نـورو جينکـو ورسره د بسـتو پـه را وچتولو مرسته وکړه. زيبا ژر د خپلی الماری نه وچی جامی راويستلی او هـما تـه يـي ورکړی چی جامی بدلی کړی، بيا يي د داروگانو يوه وړوکی صندوق راوړو او د هـما په خراشکو يي ملهم کيښودل. يوی جينـۍ ژر ژر د هغـی جـامی پـه اسـتريۍ (اتـو) اوچولی. بلی په منډه هغی له چای راوړی او بيا تر ډيره وخته دوی په خبرو بـوختی وی. هما د خپلی سپينی لوپټی په غم کې وه. هغه له موره ويريده. زيبا ورله تسلی ورکړه او خپله نوی سپينه لوپټه يي د هغی په سر واچوله. زيبا هم له هغی ورځـی ددی ملگری شوی وه. نازنين په هاسټل (ليليه) کې هغه وخت داخله شـوه چـې د دې ټولی کوټی نيول شوی وی. د طب ددی پوهنتون په ليليـه کـې دوه ډولـه کـوټې وی. يو هغه چې د څلورو جينکو لپـاره وی، دويـم هغـه چـې دوه دوه بـه پـه کـې اوسيدی. د ليليی د مشری د کور سره جوختی څلور داسی کوټی وی چې پـه هغـوی کې به د هر ټولگي استاذی جينکی ووسيدی. دوی به د مشری او د نورو جينکـو تـر منځ اړيکی ساتلی او ددوی ستونزي به يي لری کولی. نازنين ته هغه ورځ را په يـاده شوه چې دې د څلورو جينکو کوټی ته خپل سامان يوړو نو هلته د وړاندی نه ښـي الماری، ميز او کټونه نورو اخيستی وو. د نازنين په نصيب کې شليدلی کـټ او داسی الماری راغله چی يوه دروازه يي نه بنديده.

(c) ketabton.com: The Digital Library
د دوی د ټولګی استاذه تر اوسه نه وه ټاکل شوی نو ځکه دی د زیبا سره ولیدل. هغی ژر یوه خاله را وبلله او د لیلیی ګودام ته یي د ځان سره بوتله. هلته نه یي نازنین ته یو ښه نوی کټ ورواستولو او په بله ورځ یي د الماری د دروازی جوړولو لپاره یو ترکاڼ هم را وغوښتو. نازنین هم له دی ورځی د زیبا مریده شوه. او بیا به تل د خپلو وړو وړو ستونزو لپاره زیبا ته ورتله.
پروین ته هغه ورځ په زړه شوه چې په لومړی ځل د زیبا کوټی ته ورغله. د لیلیی ډیرې جینکی د اختر لپاره کورونو ته تللی وی. پروین پخپله کوټه کې یواځی ژړل چې زیبا ورباندی را پیښه شوه. بیا یي دا خپلی کوټی ته بوتله هغه کوټه چی په ټولی لیلیه کې د جینکو لپاره د یوی ښکلی دنیا په شان وه. پروین په لومړی ځل ولیده. په سپینو دیوالونو د چت سره نږدی زیبا پخپل لاس په رنګ د ښایسته ګلونو حاشیی جوړې کړي وي. په کړکی او دروازی یي اسمانی رنګ پردی وی چې ورباندی د ګلابو واړه واړه ګلونه ګنډلی وو. هم دغه ګلونه د دیوال په حاشیو هم وو. د کوټي ټول فرش په سرۀ قالینه (غالۍ) پټ وۀ. په کرسیو ایښی نرمی ګدۍ هم دغسی وی. پدی میز د بلو رو په یوه پیاله کې منی او مالټی ایښی وی. د کوټی په بل ګوټ کې د شیشی په وړی الماری کې چینی لوښی او ورسره وړوکی یخچال وو چې ورباندی د تازه ګلونو ګیډی ایښی وۀ. د زیبا کټ هم ریښتا چی ځپر کټ وو. ددی پوښ تک سپین وو او ورباندی هماغسی- سور رنګ واړه ګلونه ګنډلی وو. پدی لویه جالۍ ځړیده د کټ سره جوخت په یو وړوکی میز د بجلۍ (بریښنا) لمپ وو او ددی په بیخ کې ګړۍ هم جوړهوه. د سبق په میز کتابونه په ترتیب ایښی وو . په یو شی هم د دوړو یا د ګرد نښه قدری هم نه وه. پروین په هغه ورځ د زیبا د سلیقی نه خبره شوه. هغی اوریدلی و چې د زیبا ښایسته شیان خوښیدل خو د هغی کوټه د هغی د خپل وجود په شان ډیره ښکلا لرله. هر چا به هڅ وهلو چې د زیبا به کوم ښکلی سړی ته ودیږی، او نن دا دری واړه ملګری د زیبا واده ته تللی وی. ددوی د واده شاه ځلمی نه و خوښ شوی د عمر نه ډیر ښکاریدو. رنګ یي هم ډیر ښه نه وو خو په دوبۍ کې یي د کروړونو ډالرو تجارت لرلو او د کال شپږ میاشتی به په امریکا او اروپا کې ګرځیدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هما، پروین او نازنین د زیبا د سترګو ملال احساس کړی وو خو نورو میلمنو ته د هغی د طلایي کار قیمتی جوړهاو د لکونو روپو ګاڼی حیرانوونکی وی. دا چی زیبا به خوشاله ژوند تیر کړی او که نه دری واړو ملګرو خپله خپله نظریه لرله. نازنین وویل چې زیبا به ټول عمر ماتم کوی هغه ډیره حسن پرسته ده هما دا خبره در کړه پدی چې زیبا د حالاتو سره سم ژوند کولی شو او پخپله به د خوشالۍ لاری پیدا کړی. دواړو خپل خپل دلایل ویل خو پروین غلی ناسته وه. اخر چې دوی سترې شوی نو هما ورته وویل پروین جانې ته خو هم څه ووایه کنه........ زیبا به خوشحاله ژوند وکړی که نه؟ پروین د شا پر تخته پرته وه او د چت پکی ته یي کتل. هغی وویل "زیبا اوس زمونږ د ژوند نه وتلی ده... کال دوه کاله وروسته به مونږ هم د یو بل نه بیلی شو. د سبق ژوند د یو ډیر ښه فلم په شان وی ماته داسی ښکاری لکه چې مونږ فلم لیدو. زیبا ددی فلم یو مرکزی کردار وو. د هغی واده ووشو فلم ختم شو." هما او نازنین د پروین د خبری په ځواب کې هیڅ وونه ویلي. دوی هم هغلته...... ګوبخی مو بخی ودی وی .

پروین خپلی عینکی لری کړی البم يي بند کړو او خپلی ملسئ ته یي وویل دا زما ملګری وې. خو اوس نه ېمه خبره چې څه شوی. زمونږ د ژوند هر پړاو یوه سینما وه خو د سبق د دوری سینما تر ټولو ښه وه. .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوښتنه

ما نه دخپلې لور سترګې نه هېرېږي،کله چې زما له کوره وتله یوه اوښکه یې هم تویه نه کړه،په موټر کې دکښیناستو پر وخت یې یو وارې بیا زما په لورې سر واړووو،په شونډو یې نرۍ موسکا وه خو په سترګو کې یې دومره پوښتنې وې چې زما زړه یې په موټې کې ونیولو،موټر یې روان شو نو ماته خپل وجود ډیر دروند معلوم شو هم هاغسې لکه چې زما دمور او پلار دجنازې پروخت وو.

اوس هم په دې تورتم کې چې کله-کله دخلکو ځیرې را یادوم نو دلور سترګې مې لکه دډیوې را ښکاره شي،ځومره په ارمان زما کورته راغلې وه، دهغې نه وړاندې په وروستي ځل مې د دوو کالو په غېږ کې نیولې وه.

په هغه ورځ اختر و،مور ورله دشنو وریښمو ښایسته کمیس ګنډلی و،دا دنورو ماشومانو سره زما د ورور کره راغلې وه، هغه وخت هم ما دا د دوو کالو وروسته لیدلې وه،خو ما په هغه ټولو ماشومانو کې دا وپېژندله،دهغې سترګې زما سترګې وې،هغې زه نه پېژندلم او چې غېږ کې مې راواخیسته نو ماته یې حیران-حیران کتل، ما ښکل کړه نو مخ یې ژر په خپل لاس پاک کړو.

ښایي زما دږیرې ویښته ددې د مخ ګلابي ځرمنې لپاره نا اشنا لمس وو، ما هغې ته خواږه په لاس کې ورکړل نو دا هغې ته ځیر شوه. ځومره بدبخته پلار ووم  د هغې د مور سره مې ژوند ونه کړی شو،هغه زما نه وه خوښه .... مور او پلار راته خوښه کړې وه....اوتر ځو چې ما دهغې تصویر لیدو او مور ته مې ویل چې زه یې نه کوم نو ددواړو کورنیو ترمنځ د واده خبرې خلاصې شوې وې.مشرـ ورور مې ټوپک را واخیستو او راته یې وویل لومړی په ما ډز وکړه او بیا دواده  نه انکار وکړه ځکه زه په دې کلې کې بیا کوز ګوری نشم ګرځېدی.زما واده... زما دښځې دژوند دبربادۍ پیل و،ما خپل ډېر کوښښ وکړو چې هغې سره یوځای واوسم خو په هره خبره به راته قهر راتلو،دهغې یوه ادا، یو کار، یوه خبره مې نه خوښیده ،کله-کله به راته داسې احساس پیدا شو چې زه دخپل دسر دښمن سره په یو کور کې ناست یم.عجیبه ورځې شپې وې، ما زیات وخت په ښار کې تېراوه کاروبارمې هم هلته و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه به مې کوله چې نورو ښارونوته په خپله ولاړشم چې کور نه لېرې يم زه په مسافرۍ کې خوشحاله اوم،کال تیر شو اوزه په کراچۍ کې خبر شوم چې لور مې شوې ده،ما یو څو دماشومانو شیان واخیستل او کورته مې ورواستول. زما لپاره اوس کلی بې مانا ځای و په تېره چې کله په کراچۍ کې مې دکاروبار یو شریک راته خپله خور په نکاح کړه. زما لور ددو میاشتو وه چې زه کلي ته ولاړم، لور مې په غیږ کې ونیوله نو مینه مې ورباندې ماته شوه،خو دهغې مورته مې چې کله کتل نو کرکه مې هم هاغسې په زړه کې وه،هغې رانه دشپې پوښتنه وکړه، "چا راته ویلي چې تا په کراچۍ کې بله ښځه کړېده؟" زه خبروم چې زما دبل واده خبره به پټه نه پاتې کیږي خو ما غوښتل چې لومړۍ خپله کورنۍ دې ته اماده کړم چې زما دویم واده وزغمي،خواوس چې دې خبره راواچوله نو ماورته وویل چې دا خبره سمه وه،هغه یوه شیبه هکه پکه په خپل ځای ناسته وه بیا په منډه له کوټې ووتله پاتې شپه ما دخپلې لور او دهغې دمور ژړا یو ځای په حجره کې اورېده،زه په کټ کې ناست اوم اوسوچونه مې کول چې دوی به تر کومې ژاړي. دهغې او زما دکورنۍ سرو هیڅ ونه وویل،دویم واده څه عیب خو نه دی،زما مور،خویندوهیچا ،هیڅ ونه ویل، خو زه پوهېدم چې زما په ښځې اور بل دی په بله ورځ هغه زمونږ له کوره ووتله اود پلار په کور کښیناسته. زه بېرته کراچۍ ته ولاړم او بیاکال کې یوواري به مې کلي ته پېښه کوله،په لومړي کال مې لور ونه لیده،زما لومړۍ ښځې هغه ماته نه پرېښوده.دویم کال همدغه داختر ورځ وه،چې لور مې د نورو ماشومانو سره دکلی میلی ته تللې وه او زماښځې داسې گومان نه کاووچې زه به د ورور په کور کې خپله لور ووینم، بس چانس ښه وو.ماشومانو په غولی کې لوبې کولې، دمیلې نه راوړي شیان یې یو بل ته ښودل، ځلوبۍ یې خوړلې د ډوډۍ پر وخت یو ماشوم داوبو ډک جام اړولی واو دځینو ماشومانو نوې جامې پرې لمدې شوې وې،زما دلور شین کمیس هم لوند و،دکور ښځو دماشومانو نه لمدې جامې ویستلې زما دلور نه یې کمیس لیرې کړو او هغې ته یې زما د وریرې وچ کمیس په غاړه کړو.بیا دا لامده واړه-واړه کمیسونه او پرتوگونه په تناب ویړي کړی شول چې د ژمي په تود لمر کې وچ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ښځه لکه چې خبره شوې وه، زه پوه نشوم چې څه وخت زما لور دنورو ماشومانو دډلي او زما دژوند نه ورکه شوه،خو زه چې دورور له کوره وتلم نو هغه وړوکی شین کمیس مې دکوټ په جیب کې و.

دا کمیس تراوسه زما په الماری کې دنورو ډېرو شیانو سره خوندي دی،ددوېمې ښځې مې زوی وشو نو په کلي کې مې خویندو خواړه وویشل،ما نه غوښتل چې زما لومړۍ ښځه ټول عمر زما لپاره سر سپین کړي، هغې ته مې پیغام ورواستوو چې که غواړي نو زه به یې ازاده کړم، دطلاق نوم بد دی خو دادې هم بل واده وکړي،په غوښتنه کې زما نه زیات زما دوېمه ښځه فعاله وه،خو لومړۍ ښځې مې هماغه څه وکړل چې زمونږ دټولنې پښتنې ښځې یې کوي،دا چې ځان وژني خو دطلاق پیغور نشي وړی.

بیا دژوند څرخ دومره ګړندی وڅرخېدو چې شل کاله واوښتل،زما مور پلار مړه شول دمشرې ښځې یو ورور په څه خبره ځان ووژلو دهغې مور هم مړه شوه،زه څوواړې کلي ته ولاړم خو دلور دیدن راته ناممکن کار وو،زما وروڼو خویندو هڅه وکړه چې ماشومه دې راته پربړدي،ما اوس هم هغې ته پیسې ورلېږلې دلور لپاره به مې په اختر اوبرات کې شیان وراستول،خو نه پوهیدم چې لور مې زه یادوم او که نه. هغې دکلي د ښونځی سبق خلاص کړو مور دښار په یو کالج کې داخله کړه،زه څوواړې کالج ته ولاړم چې هغه ووینم،خو دکالج مشرې راته اجازه رانه کړه. ماته خدای دوه نور زامن هم راکړل، داسې ښکاریده لکه چې زما په قسمت کې نورې لوڼې نه وې،زما دوېمې ښځې به راپورې خندل چې خلک زامن غواړي او ته دلوڼو ارمان کوې.

په کلي کې به دنړدې خپلو خپلوانو ودونه کېدل نو ما به خپله کېمره چاته ورکړه چې دټولو نجونو تصویرونه دې

واخلي،خوزما دلور تصویر به چا نشو اخیستی،هغه د مور له خوا ودونو ته هم نشوه تللې،زما سزا همدا وه چې دلور مخ ونه وینم،بیا خبر شوم چې زما لور په یو دفترکې ځان ته کار پیدا کړی و،ما دې دفتر ته څو وارې ټیلیفون وکړو خو ددې سره مې خبرې ونکړې شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما زامن اوس لوی دي، یو په پوهنتون کې دی،دوه نور په کالجونو کې سبق وای، زما کاروبار اوس نورو خلکو سمبالوو،ماته دزړه مرض پیدا شوی و او ډاکټرانوراته داوږدو سفرونو اجازه نه راکوله، دشکرې مرض زما دسترګو نظر کم کړی و.مشر-ورور مې مړ شو نو په ما دزړه حمله راغله،او په روغتون کې داخل شوم بیا کورته په راتلو زما دویمې ښځې یوه میلمستیا وکړه .ددې میلمستیا په دویمه ورځ زه دخپل کور په برنډه کې ناست اوم چې نوکر خبر راوړ چې یوه جینۍ ما لیدل غواړي، زه د لوېي دروازې پورې ولاړم خیال مې دا وو چې څوک به نوکرۍ لپاره راغلی وي،هلته زما لور ولاړه وه ما د لیدو سره سم وپېژندله، سترګې یې زما سترګې وې ما په غېږ کې ونیوله نودهغې سترګې ډکې شوی،دننه مې بوتله نو مخامخ راته ښځه ولاړه وه، هغه زما دوینا نه وړاندې پوهه شوې وه او رنګ یې ژېړ تښتیدلی وو.

مانه خپله ناروغي هېره شوه،څوساعته مې هم دلور سره خبرې کولې،هغه زما دناروغۍ نه خبره شوې وه زما دژوند دهر پړاو نه خبره وه،زما د زامنو نومونه هم ورله ورتلل،زما دویمې ښځې ته یې ادې وویل،هغه دخپل مور دمخالفت سره زما لیدو ته راغلې وه،زه یوځه خواشینی اوم هغې ته مې په قهر وویل چې ځوانې جینکۍ یواځې نه ګرځي،خو هغې راته وویل:"بابا زه په الوتکه کې راغلې یم مشرې ببونه مې ستا پته اخیستې وه،ټیلیفون شمیره هم راسره وه زما ددفتر یوه ملګرې دلته په کراچۍ کې واده شوې ده،او هغې ماته ویلې و چې که راتلې نو زه به دې دهوایي میدان نه راولم" زه دهغې په جرآت خوشحاله شوم، دغرمې د ډوډۍ نه وروسته مونږ په باغ کې کښیناستو او هغې ماته دخپل سبق او ددفتر خبرې وکړې.

زه هېڅ خبر نشوم چې زما زامن څه وختې کورته راغلل، دوی څه وویل... څه یې وکړل زما ټوله توجه خپلې لور ته وه،مازدیګر مهال دهغې ملګرې ورپسې ټیلیفون وکړو، دشپې لپاره بیرته تلله او که نه. ما هغه ایساره کړه خو زما دویمه ښځه خوشحاله نه ښکاریده.زه پوهیدم چې هغه زما دلور په مخ کې خپله بنه ویني،خوزما تنده ډېره وه ما غوښتل چې دتیرو څوکلونو مینه په خپلې لور وشیندم هغه دومره ونازوم چې ټولې فاصلې ورکې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library
دشپې دډوډۍ نـه وروسـتـه هـم مـونږ خـبرې کـولې بيـا ناوختـه هغـه دميلمنو دايسـارېدو کـوټې تـه ولاړه او زه چـې پـه خپـل کـټ پرېـوتم نـو ښـځې مـې ژبـه پرانيستله،هغې په يوه ساه بې شمېره پوښتنې کولې"دا به څومره ورځې دلتـه وي؟ پـه کـوم هـدف راغلـې ده؟ مـور بـه راليږلـې وي؟دومـره مـوده وروسـتـه يـې ولـې راپرېښوده؟ دا به زما کور خو نه ورانوي؟"خو ما دهغې ديوې پوښـتنې ځـواب هـم نه ورکاوو زما داوړو نه لکه چې يو لوی پيټی ليرې شـوی وي،دشـپې مـې پـه ارامـه خوب وکړ.
په دويمه ورځ هم ما دلور سره تيره کړه،دهغې غږ پرما ډيرخـوږ لګيدو،غوښـتل مـې چې ټوله ورځ هم ددې خبرې واورم،دهغې له خولې چـې بابـا بـه مـې واورېـدو نـو زړه به مې په ټوپونو شو زما زامنـو ماتـه "ډيـډي" ويـل، مـازديګر زمـا لـور دخپلـې ملګرې کورته ولاړه چې خپلې جامې کالي او نور شيان راوړي.
هغه چې لاړه نو ښځه راته مخې ته کښېناسته اوبيا يې پوښتنې پيل کـړې مـا ورتـه په قهر وويل:"زما غوږونه مه خوره هغه زما ليدو ته راغلې ده کار لـري... ولاړه بـه شي دمـيرې دښـمني ورسره مـه کـوه"ښـځه مـې ددې خـبرې پـه اوريـدو لا پـه قهـر شوه،راته يې وويل چې  زه ډېر کمزوری يم، دا جينۍ به دهغې کورورانوي اوس په خپله راغلې ده بيا به ورپسې مور هم راشي،ما دهغې دتسلۍ لپـاره ورتـه ډېـر څـه وويل خو دې په ژړا پيل کړه.زامـن مـې دخپلـو کوټونـه راوتـل مـونږ ټـول يـو ځـای کښېناستو،اوترډېره وخته مو خبرې کولې،زامنو مې د مور پلوي کوله وروستۍ خبره داوه چې زما لور يوه شپه به نوره زمونږ په کور کې کوي بيا چې هر چېرتـه غـواړي ځي به،ما ښځې ته منت زارۍ وکړې چې هغـه بـه ولاړه شي داسـې تـادي ښـه نـه ده،خودې راته ګواښ وکړو چې که يوه بله شپه مي لور راکره وکړه، نو دا به دزامنـو سره له کوره وځي. ماښام زما لور خوشحاله-خوشحاله راغله يو وړوکی تور صندوق يې ځان پسې را ښکلو،ما نوکر ته اشاره وکړه نوهغه ترې صندوق ونيولو او کـور تـه يې دننه کړو.مونږ دواړه په برنډه کې کښياستو زما کور سمندر تـه نـږدې دی او پـه دې ماښام ډېره ښه هوا چلېده،دبرنډې دستنې سره درامبيـل دګلونـو ځيلـۍ دسـپينو ګلونو نه ډکه وه او دګلونو وږمې دهوا سره يو ځای شوې وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library
زما لور دځیلئ نه یو څو ګلونه وشوکول....بوی یې کړل او بیا راسره کښیناسته راته یې وویل:"بابا ددې کور همدغه ځای ډېر ښکلی دی" زه خبر اوم چې دهغې دا ځای خوښیدو،پرون مونږ دلته څومره خبرې کړې وې نن مو چای او دغرمې ډوډۍ دلته یو ځای خوړلې وه. ما دهغې نه پوښتنه وکړه چې په کراچۍ کې څومره وخت پاتې کیده،هغې وویل زما ټکټ دیوې اوونۍ لپاره دی خوزه غواړم صبا بېرته ولاړه شم،هغې چې دا خبره وکړه نو زما سترګو ته یې وکتل ما ترینه سترګې بلې خواته واړولې هغې ته مې هېڅ ونه ویل هغې زما دخبرې انتظار کاوو خو ما ورته هیڅ نشو ویلی،په سینه مې یو لوی کاڼی پرېوتو،لاس مې اوچت کړو خو هغې د وړاندې نه راته ګیلاس نیولی و ما ترینه یو څو ګوټه اوبه وڅښلې.په دې کې یوې خدمتګارې غږ وکړو چې ډوډۍ تیاره ده ،مونږ دننه ولاړو نو لور مې دټولو سره روغبړ وکړو،ټول غلي وو،زما دښځې سترګې اوس هم سرې ښکارېدې...سره له دې چې هغې مخ لاس وینځلی او سرخي پوډر یې کړی وو. زه نه پوهیدم چې دهغې سرې سترګې به زما لور هم لیدلې وي او که نه دا زما وهم وو،ښځې مې لکه دپرون په شان ورسره عادي خبرې کولې دخواړو شیان یې ورته ورکول،خو پرون اونن کې فرق و یا ښایي ماته په کې فرق ښکارېدو. د ډوډۍ نه ورسته مونږ بیا برنډې ته راووتلو لور مې جامو بدلولو لپاره خپلې کوټې ته ولاړه نو ښځې راته بیا خپله خبره یاد کړه،ما ورته وویل:"ډېره مه دردېږه هغه صبا ته ځي"ښځه مې ددې خبرې په اورېدو ارامه شوه،بیا مې چې لور راسره کښیناسته نو هغې ورسره خوږې خوږې خبرې پیل کړې،ما دخپلې لور سره سترګې نشوی لګولې نه مې ورته ویلی شول چې صبا ته مه ځه یوه اونۍ ایساره شه،نه مې ورته دتللو ویلی شول،زما ښځې ورته د دروغو ستونه کول چې "کاش که یو څو ورځې نوره ایساره شوې وای" هغې به زر ماته وکتل زما لور دا خبره زما دخولې غوښتله،خوما هېڅ نشو ویلی.زما په خوله یو غټ قلف لګېدلی و،زه نه پوهیدم چې نور مې ورسره څه خبرې وکړې،شپه ځنګه تېره شوه..... سحر ځنګه وشو،هغې ځنګه ځان ته په الوتکه کې سیټ پیداکړو اوهغه کومه ګړۍ وه چې دا زما له کوره ووتله،نه پوهیږم چې غرمه وه که ماښام،هغې څه ویل او څه نه ویل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته ترغاړې ووتله اوبیا چې موټر کې کښیناسته نو یوواړې مې سترګې دهغې په سترګو ولګیدې،هغه ډېره په حوصله موټر کې کښیناسته په شونډو یې موسکا وه،خو په سترګو کې یې یوه پوښتنه وه.....او زه ددې پوښتنې په ځواب پسې تراوسه ګرځم،زما دسترګو نظرولاړو زه دنورو محتاج یم، ښځه مې په ورځ کې یو ځلې راسره کښیني، زامن مې کله راته راشي کله نه ،زه نه یم خبر چې نن څومه ورځ ده یو بوډا نوکر زما خدمت کوي او هغه مې ددنیا له حاله خبروي.
خو زه چې ځان ته یم دلور سترګې وینم او دهغې دسترګو هغه پوښتنه هم چې"پلاره ته ماته ولې نه وایې چې پاتې شه." .

# پای

com: The Digital Libra



د ښاغلی عادل منصور پیژندنه :

**میندې راوړي ډیرزامن ، ډیر اولادونه**

**یو یا دوه یی افلاطون یا سکندر شي**

ښاغلی عادل منصور"منصور" د ډاکټر حمید منصور زوی او اصلاً د کنړ ولایت شیګل ولسوالی او سیدونکې او په قوم منصور خیل ماموند دې.

چی په (۱۳۸۸هـ ش) کال په کوزه پښتونخوا کې په یوې دیندارہ کورنۍ کی دې نړۍ ته سترګی غړولې اوس مهال په خپل ګران هیواد د افغانستان په جلال اباد ښار په اتمه ناحیه کی استوګنه غوره کړی ده او د اتمې ناحیی پوری اړوند د دامان منځنی ښوونځې کې د (۹ )نهم صنف متعلم دی.

منصور که له عمره کوچنی دی خو د خپلی خاوری او مورنۍ ژبې او اولس د سرلوړۍ او ښیرازۍ ارمان یې د زړه په هنداره کې له ورایه معلومیږی. خلوص،صداقت،ایمانداري د ښاغلی منصور په خیره کې له ورایه محسوسیدلی شي.

زه"صادق" چی یې تر ډیره پیژنم یو تکړه پیاوړی او زیارکښ هلک دی زه دغه کوچني ځوان ته د ژوند په ټولو چارو کې له ستر خدای(ج) څخه د کامیابۍ غوښتونکی یم.

په درنښت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**